Social Science
AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د أم المؤمنين عائشةرضي الله عنها علمي مقام

**نوماند پوهنیار محمد نعیم توحیدی[1]، پوهندوی دوکتور فضل کریم شرف[2]**

[1]اسلامي تعلیماتو څانګه، شرعیاتو پوهنځی، هلمند پوهنتون، لښکرګاه، افغانستان

[2]اسلامي ثقافت څانګه، شرعیاتو پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان

د مسؤل بریښنالیک: tawhedi.786@gmail.com

تر لاسه سوې: ۱۴۰۵/۰۴/۰۷ منل سوې:۱۴۰۵/۰۵/۲۷ خپره سوې : ۱۴۰۵/۰۶/۳۱ د ثبت ګڼه: LSSAJ-3-1-19 مخونه:۲۶۹-۲۹۸

**لنډیز**

ام المؤمنين عائشةصدیقه رضی الله عنها د اسلامي امت له هغو وتلو علمي شخصیتونو څخه ده، چې د حدیث، فقهي او اسلامي علومو په وده کې یې ستر خدمات ترسره کړي دي. د څېړني موخه د عائشې رضی الله عنها د علمي مقام او په اسلامي فقاهت کې د هغې د ونډې څرګندول دي. په مقاله کې د توصیفي او تحلیلي منهج له لارې د هغې علمي شخصیت، د احادیثو په روایت کې یې ونډه، او د فقهي احکامو په استنباط کې برخه اخیستنه څېړل سوې ده. د څېړني څخه معلومیږی چې ام المؤمنينعائشةرضی الله عنها د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین په منځ کې د سترو فقیهانو او محدثانو د جملې څخه وه، چې د اسلامي شریعت د احکامو په تبیین، تفسیر او توضیح کې یې مهمه برخه اخستې ده. همدارنګه د هغې علمي آراء، فتویوې او اجتهادونه د اسلامي فقهي د میراث یوه ارزښتناکه برخه جوړوي. د څېړني پایلي ښیي، چې عائشةرضی الله عنها نه یوازې د خپل عصر یوه ستره عالمه او ښوونکې وه، بلکې د اسلامي علومو د پراختیا او د ښځو د علمي ونډې د پیاوړتیا په برخه کې یې هم ځانګړی او بې ساری مقام درلود.

**کلیدي کلمې:** اسلامي علوم؛ اجتهاد؛ احکامو استنباط؛ حدیث؛ فقاهت؛ فتوا؛ علمي مقام

# المكانة العلمية لأم المؤمنين عائشة رضي الله عنها

**محمد نعيم التوحيدي[1]، الدكتور فضل كريم شرف [2]**

[1]قسم التعليمات الإسلامية، كلية الشريعة، جامعة هلمند

[2]قسم الثقافة الإسلامية، كلية الشريعة، جامعة كابل

البريد الإلكتروني : tawhedi.786@gmail.com

**المخلص**

تُعَدُّ أمُّ المؤمنين عائشةُ الصدِّيقةُ رضي الله عنها من أبرز الشخصيات العلمية في تاريخ الأمة الإسلامية، وقد أسهمت إسهامًا بارزاً في خدمة الحديث والفقه وسائر العلوم الإسلامية وتطويرها. وتهدف هذه الدراسة إلى بيان المكانة العلمية لعائشة رضي الله عنها وإبراز إسهاماتها في مجال الفقه الإسلامي. وقد اعتمدت الدراسة على المنهج الوصفي والتحليلي في دراسة شخصيتها العلمية، وبيان دورها في رواية الأحاديث ونشرها، وإسهامها في استنباط الأحكام الفقهية.

وتوصلت الدراسة إلى أن أم المؤمنين عائشة رضي الله عنها كانت من كبار فقهاء الصحابة ومحدثيهم، وكان لها دور مهم في بيان أحكام الشريعة الإسلامية وتفسيرها وتوضيحها. كما أن آراءها العلمية وفتاواها واجتهاداتها تمثل جانبًا مهمًّا من جوانب التراث الفقهي الإسلامي. وأظهرت نتائج الدراسة أن عائشة رضي الله عنها لم تكن عالمةً ومعلِّمةً بارزةً في عصرها فحسب، بل كان لها كذلك مقام متميز وأثر واضح في نشر العلوم الإسلامية وتعزيز الإسهام العلمي للمرأة المسلمة.

**الكلمات المفتاحية:** العلوم الإسلامية؛ الاجتهاد؛ استنباط الأحكام؛ الحديث؛ الفقه؛ الفتوى؛ المكانة العلمية.

## سریزه

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدنا محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين، أما بعد:
اسلام د علم او پوهې دین دی او د علم د خپرولو او ساتلو لپاره یې د ټولنې هر وګړي ته ځانګړی مقام ورکړی دی. د اسلامي تاریخ په اوږدو کې ګڼو نارینه او ښځینه شخصیتونو د علم، دعوت او د اصلاح په ډګرونو کې ارزښتناک خدمات ترسره کړي دي. د دغو سترو علمي شخصیتونو له جملې څخه ام المؤمنینعائشةصدیقه رضی الله عنها ځانګړی مقام لري. نوموړې نه یواځې د رسول الله ﷺ مبارکه مېرمن وه، بلکې د علم، فقاهت، حدیث، تفسیر او فتوی په ډګرونو کې یې داسې خدمتونه ترسره کړي چې د اسلامي علومو په تاریخ کې یې تلپاته اغېز پرې ایښی دی.
عائشة رضی الله عنها د رسول الله ﷺ له نږدې رفاقت څخه په استفادې د قرآن کریم، نبوي سنت او د اسلامي احکامو ژوره پوهه ترلاسه کړه. هغې د نبوي علومو په نقل، حفظ او نشر کې مهم رول درلودی او زرګونه احادیث یې امت ته ورسول. همدارنګه د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین او تابعینو لپاره د علم او فتوی یوه معتبره مرجع وه، چې د فقهي ستونزو او شرعي پوښتنو د حل لپاره به ورته مراجعه کیده.
د دې موضوع اهمیت په دې کې دی چې د عائشې رضی الله عنها علمي او فقهي شخصیت د اسلامي تمدن او فقهي میراث په جوړښت کې بنسټیز رول لري، خو د هغې د خدماتو د بېلابېلو اړخونو علمي څېړنه لا هم د معاصرو مطالعاتو له مهمو اړتیاوو څخه شمېرل کیږي. پدې مقاله کې هڅه سوی چې د عائشې رضی الله عنها علمي مقام، د حدیثو په روایت کې د هغې ونډه، د فقهي احکامو په استنباط کې د هغې اجتهادات، او د اسلامي فقهي په پرمختګ کې د هغې اغېز په علمي او تحلیلي بڼه وڅېړل سي.
د دې څېړنې اساسي موخه د عائشې رضی الله عنها د علمي شخصیت او فقهي خدماتو څرګندول دي، څو د اسلامي علومو په تاریخ کې د هغې حقیقي مقام روښانه سی او د معاصرو مسلمانو ښځو لپاره د علم، تقوا او خدمت یوه غوره بېلګه وړاندې شي.
په مقاله کې د استقرایي او تحلیلي منهج څخه کار اخیستل سوی او د موضوع اړوند معلومات له معتبرو حدیثي، تاریخي او فقهي سرچینو څخه راټول او ارزول سوی دي.

## د څېړني ارزښت

د دې څېړني اهمیت په دې کې دی چې د ام المؤمنین عائشې صدیقې رضی الله عنها علمي او فقهي شخصیت د اسلامي علومو په تاریخ کې روښانه کوي، او د حدیث، تفسیر او فقهي استنباط په برخو کې د هغې علمي میراث ته په خاص ډول پاملرنه کوي. همداسې، د صحابه‌وو او تابعینو په علمي روزنه او د اسلامي فقهي میراث په پراختیا کې د هغې اغېز ښکاره کوی. د دې ترڅنګ څېړنه د معاصرو

محصلینو او څېړونکو لپاره د هغې د علمي شخصیت د مطالعې ارزښت او د مسلمانو ښځو لپاره د علم، تقوا او دیني خدمت د غوره بېلګې په توګه د هغې مقام روښانوي.

## د څېړنې موخې

اساسي موخې:

د ام المؤمنین عائشې صدیقې رضی الله عنها د علمي شخصیت او د اسلامي علومو په وده کې د هغې د ونډې څرګندول.

فرعي موخې:

۱- د ام المؤمنین عائشې رضی الله عنها د علمي شخصیت مهې ځانګړنې او د علمي مقام عوامل روښانه کول.

۲- د حدیث، تفسیر او فقهې په برخو کې د هغې د علمي فعالیتونو او خدماتو څېړل.

۳- د فقهي مسائلو په استنباط کې د هغې د منهج او د استدلال د اصولو څرګندول.

۴- د صحابه کرامو او تابعینو پر علمي روزنه او د هغوی پر علمي استفادې د هغې د اغېز معلومول.

۵- د اسلامي علمي او فقهي میراث په پراختیا کې د هغې د خدماتو بیانول.

## د څېړنې پوښتنې

دا څېړنه د لاندې پوښتنو د ځواب موندلو هڅه کوي:

۱- کومو عواملو د ام المؤمنین عائشې رضی الله عنها علمي مقام لوړ کړی وو؟

۲- د حدیث، تفسیر او فقې په برخو کې د عائشې رضی الله عنها علمي فعالیتونه په کومو بڼو څرګند سوي دي؟

۳- عائشې رضی الله عنها د فقهي مسائلو په استنباط کې دکومو علمي اصولو او د استدلال د کوموطریقو څخه کار اخیستی دی؟

۴- د صحابه کرامو او تابعینو په علمي روزنه کې د هغې اغېز څومره وو؟

۵- د اسلامي علمي او فقهي میراث په پراختیا کې د عائشې رضی الله عنها ونډه څه ډول ارزول کېدای سی؟

## مخکینیو آثارو او څېړنو ته کتنه

د ام المؤمنین عائشې رضي الله عنها د سیرت، فضائلو او علمي مقام په اړه ګڼ شمېر آثار لیکل سوي دي. له مهمو آثارو څخه «امنا عائشة»، «إجلاء الحقیقة في سیرة عائشة الصدیقة» او «سیرة السیدة عائشة أم المؤمنین» د یادونې وړ دي. دغو آثارو د عائشې رضي الله عنها د ژوند، فضائلو، علمي شخصیت او د اسلامي علومو په خدمت کې د هغې د ونډې په اړه ارزښتناک معلومات وړاندي کړي دي.

یاده څېړنه له یادو آثارو څخه په دې توپیر لري چې د عائشې رضي الله عنها علمي مقام، فقهي خدمات، د فتویوو مقام، د استنباط منهج او د صحابه کرامو رجوع ورته په ځانګړې او متمرکزه توګه څېړي او د هغې د علمي شخصیت بېلابېل اړخونه په یوه علمي چوکاټ کې راټولوي.

**مواد او کړنلاره**

دا څېړنه پر استقرایي او تحلیلي منهج ولاړه ده. د موضوع اړوند معلومات له معتبرو اسلامي مآخذو څخه راټول او د عائشې رضي الله عنها د علمي شخصیت او خدماتو د څرګندولو لپاره تحلیل سوي دي.

**د څېړني موندني**

**دأم المؤمنين عائشة رضي الله عنها پيژندنه :**

**د عائشې رضی الله عنها نوم، کنیه او نسب:**

ام المؤمنین حضرت عائشة صدیقة رضی الله عنها د اسلام په تاریخ کې له هغو سترو او ممتازو شخصیتونو څخه ده چې الله تعالی ورته ځانګړی مقام، عزت او فضیلت ورپه برخه کړی دی. نوم یې «عائشة» او د «الصدیقة» په لقب مشهوره وه، او د«أم المؤمنين» په ستر ویاړ یادیدل. همدارنګه د «أم عبدالله» په کنیه هم یادېدله، او کله ناکله به په «الحميراء» هم ملقبه کیدله. رسول الله ﷺ به ډېر ځله هغې ته د «بنت الصدیق» (د صدیق لور) خطاب کاوه. [سنن ابن ماجه : حدیث :4198 / عمدة القاري،ج١٦،ص ٢٥٠/ إرشاد الساري،ج٦،ص ١٤١]

عربو د کنیې لرل د شرف، عزت او ټولنیز مقام نښه بلله. عائشةرضی الله عنها اولاد نه درلود، له همدې امله یې په لومړیو کې کومه ځانګړې کنیه نه لرله.امام ابوداود رحمه الله دعائشةرضي الله عنها له طریقه روایت کوی هغه وایی چې یوه ورځ یې له رسول الله ﷺ ته وویل: «یا رسول الله! زما ټولي ملګري کنیې لري.» رسول الله ﷺ د هغې د زړه د خوښۍ لپاره وفرمایل: «د خپلې خور أسماء رضی الله عنها د زوی عبدالله په نوم کنیه غوره کړه.» له هماغې ورځې وروسته په «أم عبدالله» مشهوره سوه. [سنن ابي داود,حدیث :4970]

د عائشې رضی الله عنها پلار په اسلام کې ستر شخصیت، لومړی خلیفه او د رسول الله ﷺ نږدې ملګری حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه و، چې اصلي نوم یې عبدالله بن عثمان و. مور یې أم رومان رضی الله عنها وه، چې له لومړنیو مسلمانانو او نېکو ښځو څخه شمېرل کیده.

عائشةرضی الله عنها د پلارله اړخه د قریسو د«بني تیم» له قبیلې سره تړاو درلود او د مور له اړخه د «بني کنانة» له ټبر څخه وه.

د پلار له اړخه یې نسب داسي دی: عائشة بنت أبي بکر الصدیق عبد الله بن أبي قحافة عثمان بن عامر بن عمرو بن کعب بن سعد بن تیم بن مرة بن کعب بن لؤي بن غالب بن فهر.

او د مور له اړخه يې نسب داسي دی: عائشة بنت أم رومان بنت عامر بن عويمر بن عبد شمس بن عتاب بن أذينة بن سبيع بن وهبان بن الحارث بن غنم بن مالك بن كنانة.
د نسب د سلسلې له مخې د عائشې رضی الله عنها نسب د پلار له اړخه له رسول الله ﷺ سره په «مُرَّة بن كعب» کې سره یو ځایي کیږی .د هغې پلار حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په ۱۳ هجري قمري کال کې وفات سو. د مور، أم رومان رضی الله عنها، د وفات د کال په اړه د تاریخ پوهانو ترمنځ اختلاف سته، ځيني يې د هجرت پنځم کال او ځيني يې شپږم کال يادوي. د ډېرو مورخينو په وينا، أم رومان رضی الله عنها د رسول الله ﷺ د ژوند په مهال وفات سوې ده.[ اسدالغابة,ج2,ص229]
امام ذهبی رحمه الله دحضرت عائشة رضي الله عنها په معرفت کې فرمايی:عَائِشَةُ بِنْتُ الصِّدِّيْقِ أَبِي بَكْرٍ التَّيْمِيَّةُ أُمُّ المُؤْمِنِيْنَ
بِنْتُ الإِمَامِ الصِّدِّيْقِ الأَكْبَرِ، خَلِيْفَةِ رَسُوْلِ اللهِ -ﷺ- أَبِي بَكْرٍ عَبْدِ اللهِ بنِ أَبِي قُحَافَةَ عُثْمَانَ بنِ عَامِرِ بنِ عَمْرِو بنِ كَعْبِ بنِ سَعْدِ بنِ تَيْمِ بنِ مُرَّةَ بنِ كَعْبِ بنِ لُؤَيٍّ، القُرَشِيَّةُ، التَّيْمِيَّةُ، المكِّيَّةُ، النَّبَوِيَّةُ، أُمُّ المُؤْمِنِيْنَ، زَوْجَةُ النَّبِيِّ -ﷺ- أَفْقَهُ نِسَاءِ الأُمَّةِ عَلَى الإِطْلاَقِ.وَأُمُّهَا:هِيَ أُمُّ رُوْمَانَ بِنْتُ عَامِرِ بنِ عُوَيْمِرِ بنِ عَبْدِ شَمْسٍ بنِ عَتَّابِ بنِ أُذَيْنَةَ الكِنَانِيَّةُ.[سيرأعلام النبلاء: ج۲،ص۱۳۵]
ژباړه : امام ذهبي رحمه الله د ام المؤمنين عائشې صديقې رضی الله عنها د پيژندنې په ترڅ کې وايي: عائشةرضی الله عنها د ابوبکر صدیق رضی الله عنه لور، د مؤمنانو مور، او د قريشو د بني تيم له معززې کورنۍ څخه وه. نوموړې د اسلام د ستر امام، صدیق اکبر او د رسول الله ﷺ د لومړي خليفه حضرت ابوبکر عبدالله بن ابي قحافه عثمان بن عامر رضی الله عنه لور وه. هغه د قريسو تيميه، مکيه او نبويه مېرمن وه، چې د رسول الله ﷺ د سپيڅلي کور غړې او د مؤمنانو مور بلل کيده.
عائشةرضی الله عنها د رسول الله ﷺ مبارکه مېرمن وه او د اسلامي امت د ټولو ښځو په منځ کې تر ټولو ستره فقيهه او د دين په احکامو تر ټولو ښه پوهې دونکې ښځه ګڼل کيده.
د هغې مور ام رومان بنت عامر بن عويمر الكنانيه وه، چې له لومړنيو مسلمانانو او له بافضيلته مېرمنو څخه شمېرل کيده.

**د رسول الله ﷺ سره د عائشة رضي الله عنها واده :**

الله تعالی د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره د عائشة رضي الله عنها د نکاح زيری د واده څخه مخکې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په خوب کې ورکړی وو.
عن عائشة، أنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " أريتك في المنام ثلاث ليال، جاءني بك الملك في سرقة من حرير، فيقول: هذه امرأتك، فأكشف عن وجهك فإذا أنت هي، فأقول: إن يك هذا من عند الله، يمضه.[ صحيح مسلم ،حديث :2438]
ژباړه : رسول الله ﷺ عائشې رضی الله عنها ته وفرمايل: ما درې شپې پرله‌پسې په خوب کې وليدلې. يوې فرښتې به ته په يوه وريښمين ټوکر کې نغښتې ماته راوستلې او ويل به يې: دا ستا مېرمن ده. بيا به

یې ستا له مخ څخه پرده پورته کړه، نو ته به وې. ما به ویل: که دا خوب د الله تعالی له لوري وي، نو الله تعالی به یې حتماً پوره کړي.
ابن حبان په خپل صحیح کي دعائشة رضي الله عنها له طریقة دا حدیث تخریج کړیدی،په هغه کي د درو ورځو پر ځایي دوې ورځي راغلي دی، نبي علیه السلام ورته وایي : چي یو سړی دوې شپې ماته په خوب کي راغلی او ستا د واده زیری یې راکړی. [صحیح ابن حبان ، حدیث :7093]
امام ترمذي رحمه الله دا روایت پدې ډول روایت کړیدی: عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ جِبْرِيلَ، جَاءَ بِصُورَتِهَا فِي خِرْقَةِ حَرِيرٍ خَضْرَاءَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ: هَذِهِ زَوْجَتُكَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ. [جامع الترمذي ، حديث :3880]
ژباړه : عائشةرضي الله عنها فرمایي : جبرائیل علیه السلام په زرغون رنګ وریښمن ټوکر کي زما تصویر و نبي کریم ﷺ ته راوړی او نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته یې وفرمایل چي دا په دنیا او آخرت کي ستا میرمن ده .
عائشة رضي الله عنها خپل د نکاح په هکله فرمایی : عن عائشة، «أن النبي ﷺ تزوجها وهي بنت سبع سنين، وزفت إليه وهي بنت تسع سنين، ولعبها معها، ومات عنها وهي بنت ثمان عشرة» [صحيح مسلم , حديث :۱۴۲۲]
ژباړه : د عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ورسره په اووه کلنۍ کي نکاح وکړه، او په نهه کلنۍ کي د واده لپاره د رسول الله ﷺ کور ته ولیږدول سوه، په داسي حال کي چي د هغې د لوبو سامان هم ورسره وو او رسول الله ﷺ هغه مهال وفات سو چي عائشةرضي الله عنها اتلس کلنه وه.

**مدینې منورې ته هجرت :**

پر مسلمانانو د مکي د مشرکانو ظلمونه او کړاوونه ورځ تر بلي زیاتېدل. په همدې وخت کي رسول الله ﷺ د الله سبحانه تعالی د حکم له مخې مدینې منورې ته د هجرت اراده وکړه. عائشةرضی الله عنها فرمایی: چي رسول الله ﷺ به هره ورځ سهار یا ماښام زموږ کور ته راتله،خو یوه ورځ د معمول خلاف د غرمې په وخت کي، په داسي حال کي چي مبارک مخ یې په څادر پټ کړی وو، زموږ کور ته تشریف راوړی.
په هغه وخت کي زه او زما خور اسماء رضی الله عنها له خپل پلار ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره ناستې وو. رسول الله ﷺ وفرمایل: ابوبکره! دلته موجود خلک لرې کړه، زه غواړم له تا سره یوه مهمه خبره وکړم. ابوبکر رضی الله عنه عرض وکړ: یا رسول الله! دلته بل څوک نسته، ټول ستاسو د کورنۍ غړي دي. د دې وروسته رسول الله ﷺ د هجرت اراده څرګنده کړه. عائشې او اسماء رضی الله عنهما د سفر د تیاریو په برابرولو کي برخه واخیسته او د سفر سامان یې چمتو کړ. [صحیح البخاري ,حدیث : 3894 ، صحیح مسلم , حدیث :1422].

د رسول الله ﷺ او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه له هجرت وروسته، حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه، د هغه زوی حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه، ام ایمن رضی الله عنها، د رسول الله ﷺ لوڼې حضرت فاطمه او حضرت ام کلثوم رضی الله عنهما، د رسول الله ﷺ مېرمنې عائشةاو حضرت سوده رضی الله عنهما، حضرت ام رومان رضی الله عنها، حضرت اسماء بنت ابي بکر رضی الله عنها او د هغې ورور عبدالله بن ابي بکر رضی الله عنه په یوه کوچنۍ کاروان کې مدینې منورې ته روان سول. [الطبقات الکبری: ج1، ص 227]

عائشةرضی الله عنها وایي: کله چې موږ مدینې منورې ته د هجرت په سفر کې روان وو، هغه اوښ چې زه پرې سپره وم، د یوه غره تنګۍ درې ته د رسېدو پر مهال سخت وارخطا او بې قراره سو. نږدې وه چې زه له اوښ څخه ولوېږم.زما مور حضرت ام رومان رضی الله عنها، چې دا حالت ولید، په لوړ ږغ یې وویل: «عائشې! د اوښ مهار پرېږده» [مجمع الزوائد ومنبع الفوائد،ج 9 ،ص 171]

**پر عائشې رضی الله عنها د رسول الله ﷺ شفقت :** رسول الله ﷺ به تل له عائشې رضی الله عنها سره په مینه، مهربانۍ او شفقت چلند کاوه. عائشة رضی الله عنها وایي: زه به له خپلو همزولو نجونو سره په لوبو بوخته وم. کله به چې زما ملګرې زموږ کور ته راغلې، رسول الله ﷺ به له کوره بهر تشریف یووړ، څو موږ په ازاد ډول لوبې وکړو، او آن د دې کار اجازه به یې په خوښۍ سره راکوله.

په بخاري شریف کې عائشةرضي الله عنها درسول الله ﷺ شفقت داسې بیانوی: عائشةرضی الله عنها روایت کوي چې یوه ورځ یې رسول الله ﷺ د خپلې خونې د دروازې مخې ته ولید، په داسې حال کې چې حبشیان په مسجد نبوي کې د نیزه بازۍ او جګړهییزو مهارتونو ننداره کوله. رسول الله ﷺ د شفقت او مهربانۍ له مخې عائشةرضی الله عنها په خپل څادر پټه کړې وه، څو هغه په آرامه توګه د دغې ننداري مشاهده وکړي. [ بخاری ،حدیث : 454/فتح الباري لابن رجب حدیث :454/ فتح الباري لابن حجر ،حدیث :۴۵۴]

پورتنی حدیثونه د رسول الله ﷺ له لوري پر عائشې رضی الله عنها د مینې، شفقت او ښه تعامل څرګندونه کوي.

**د عائشې رضی الله عنها د جهاد جذبه او خدمتونه:**

اسلام د فطرت دین دی او د ښځو لپاره یې احکام د هغوی د فطري ځانګړتیاوو، جسمي جوړښت او طبیعي اړتیاوو په پام کې نیولو سره وضع کړي دي، ترڅو د دین پر احکامو عمل کول ورته اسانه وي. د جهاد په ډګر کې که څه هم پر ښځو د نارینه وو په څېر جنګ کول فرض نه وه، خو هغوی به د اسلامي لښکرو ترڅنګ مهم او ارزښتناک خدمتونه ترسره کول. ښځو به د ناروغانو پالنه کوله، د ټپیانو درملنه او مرهم پټي به یې کولې، مجاهدینو ته به یې اوبه رسولې او د اړتیا پر مهال به یې نورې مرستندویې دندې هم ترسره کولې.

عائشة رضی الله عنها هم د نورو صحابیاتو په څېر د اسلام د خدمت او د مسلمانانو د مرستې لوړ احساس درلود او په بېلابېلو مناسبتونو کې یې د مسلمانانو ترځنګ د خدمت او همکارۍ مهم رول ادا کړی دی.

انس رضی الله عنه روایت کوي چې د اُحد د جګړې په ورځ، کله چې ډېری خلک د رسول الله ﷺ له شاوخوا څخه خپاره سول، ابوطلحه رضی الله عنه د رسول الله ﷺ مخې ته ولاړ و او په خپلې ډال سره یې د هغه ساتنه کوله. هغه ډېر تکړه غشی ویشتونکي و او په هماغه ورځ یې دوه یا درې لیندۍ ماتې کړې. هر چا چې به د غسو ډکه ترکش راوړه، ویل به یې: دا ابوطلحه ته ورکړئ.

رسول الله ﷺ به کله ناکله د دښمن د حالاتو د لیدلو لپاره سر راپورته کاوه، خو ابوطلحه رضی الله عنه به ویل: «زما مور او پلار دې درنه قربان شي! خپل سر مه راپورته کوئ، هسې نه د دښمن کوم غشی درته ورسېږي. زما سینه دې ستا تر سینې مخکې قربان وي.»

انس رضی الله عنه وایي: ما د ابوبکر صدیق رضی الله عنه لور عائشة رضی الله عنها او ام سلیم رضی الله عنها ولیدلې، چې خپلې جامې یې د خدمت لپاره راټولې کړې وې او په ډېرې چټکۍ سره به یې د اوبو مشکې پر خپلو اوږو وړلې. هغوی به مجاهدینو ته اوبه ورکولې، بیا به بېرته تللې، مشکې به یې له اوبو ډکولې او یو ځل بیا به راتلې او مجاهدینو ته به یې اوبه رسولې.

همدارنګه دجګړې د سختوالي له امله د ابوطلحه رضی الله عنه توره دوه یا درې ځله له لاسه ولوېده. [بخاري،حدیث,4064]

له دې حدیث څخه معلومیږي چې عائشة رضی الله عنها که څه هم په جهاد کې د مستقیمي مبارزې لپاره نه وه وتلې، خو د اُحد په غزا کې یې د مجاهدینو د خدمت، د ټپي جنګیالیو د خړوبولو او د ټپیانو د مرستې په څېر مهم خدمتونه ترسره کړي دي. دا د هغې د جهادي جذبې، ایثار او د اسلام د خدمت د روحیې څرګندونه کوي

**د عائشې رضی الله عنها لپاره الهي براءت**

د بني مصطلق غزا په پنځم هجري کال د شعبان په میاشت کې ترسره سوه. د رسول الله ﷺ د معمول له مخې، کله چې به د سفر یا غزا اراده کول د خپلو مېرمنو ترمنځ قرعه اندازي(پچه اچونه )کوله او د چا په نوم به چې قرعه رااووتل، هغه میرمن به یې له ځان سره بیوله. د بني مصطلق په غزا کې د عائشې رضي الله عنها په نوم قرعه رااوتل او هغه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ سره روانه سوه. د سفرد پای ته رسېدو وروسته،کله چې مسلمانان مدینې ته نږدې سول، رسول الله ﷺ د شپې د لښکر د حرکت اعلان وکړ. عائشة رضي الله عنها د حاجت لپاره له لښکر څخه لرې لرې ولاړه. کله چې بېرته راستنه سوه پوه سوه چې د ظفار د ملغلرو څخه جوړ سوی امېل یې ورک دی. د امیل د پیدا کولو لپاره بېرته ولاړه او په لټون کې یې وخت تېر شو.

په دې موده کې د هغې د کجاوې د پورته کولو لپاره کسان راغلل او کجاوه یې پر اوښ کېښېښوده په داسې حال کې چې هغوی ګومان کاوه عائشة رضي الله عنها پکښې ناسته ده. د هغه وخت ښځې د

خوراک د لړوالي له امله (په وزن ) سپکي وې او عائشة رضي الله عنها هم ځوانه وه، د همدې امله هغوی د کجاوې سپکوالي ته پام ونه کړ او لښکر روان سو.

کله چي عائشې رضي الله عنها خپل امېل پیدا کړ بېرته د لښکر تم ځای ته راغله، خو ټول خلک تللي وو. هغې ګومان وکړ چي کله مسلمانان پوه سي چي هغه په کجاوه کېنسته بېرته به پسې را وګرځي نو په خپل ځای کي کښېناسته او د انتظار پر مهال خوب پرې غالب سو.

په همدې وخت کي صفوان بن معطل رضي الله عنه، چي د لښکر تر شا پاته سوی و، سهار د عائشې رضي الله عنها ځای ته ورسېد. هغه عائشة رضي الله عنها وپېژندله ځکه د حجاب له نازل کېدو مخکي یې هغه لیدلې وه. کله چي عائشة رضي الله عنها راویښه سوه خپل مخ یې په څادر پټ کړ. صفوان رضي الله عنه له هغې سره هېڅ خبرې ونه کړې، پرته له دې چي د هغې په لیدلو یې د« إنا لله وإنا إليه راجعون» کلمه وویل. بیا یې خپله اوښه ورته چوکه کړه، عائشة رضي الله عنها پرې سپره سوه او هغه د اوښ مهار ونیو او تر لښکر پوري یې ورسوله.

د دې پېښې له امله منافقانو د عائشې رضي الله عنها په اړه ناوړه اوازې خپرې کړې. د دې تهمت لوی مسؤل عبدالله بن أبي بن سلول و. مسلمانان مدینې ته ورسېدل او عائشة رضي الله عنها ناروغه سوه. هغه یوه میاشت د خلکو د خبرو څخه هېڅ خبره نه وه. یوازي دا یې احساسوله چي رسول الله ﷺ د ناروغۍ پر مهال د پخوا په څېر ځانګړې مینه او نرمي نه ورسره ښرګندوي خو لا یې نه پوهي ده چي علت څه دی.

کله چي له ناروغۍ څخه لږ ښه سوه د ام مسطح رضي الله عنها سره د حاجت لپاره دکوره بهر ووتله. د بېرته راتلو پر مهال ام مسطح د خپل زوی مسطح په اړه ښیرا وکړه. عائشې رضي الله عنها پرې اعتراض وکړ او ویې ویل چي هغه د بدر په غزا کي ګډون کړی دی. ام مسطح ورته د افک ټوله خبره بیان کړه. د دې خبرې په اورېدو سره د عائشې رضي الله عنها ناروغي او غم لا زیات سو.

عائشة رضي الله عنها له رسول الله ﷺ څخه اجازه واخیسته چي د خپل مور او پلار کور ته لاړه سي، څو د موضوع حقیقت له هغوی څخه معلوم کړي ، هلته یې له خپلي مور څخه وپوښتل چي خلک څه وایي. مور یې د تسلۍ هڅه وکړه، خو عائشة رضي الله عنها چي پوه سوه چیدا خبره د خلکو په منځ کي خپره سوې ده ټوله شپه یې په ژړا تېره کړه.

په همدې موده کي چي وحی نه وې نازلې سوې، رسول الله ﷺ له اسامه بن زید او علي بن أبي طالب رضي الله عنهما سره مشوره وکړه.اسامه رضي الله عنه د عائشة رضي الله عنها د پاکۍ او د رسول الله ﷺ د کورنۍ په اړه د خپل علم پرآساس وویل چي موږ له هغې څخه پرته له خیر بل څه نه پېژنو. علي رضي الله عنه هم وویل چي د الله تعالی له لوري پر رسول الله ﷺ هېڅ تنګي نسته او که اړتیا وي له بریرې رضي الله عنها څخه دې پوښتنه وسي.

رسول الله ﷺ بریره رضي الله عنها وپوښتله چي ايا له عائشې رضي الله عنها څخه يې کوم داسي کار ليدلی چي د شک وړ وي. بريرې رضي الله عنها په ټينګار وويل چي له عائشې رضي الله عنها څخه يې هيڅ داسي کار نه دی ليدلی چي د هغې عيب وبلل شي، پرته له دې چي هغه يوه ځوانه نجلۍ ده او کله کله د کور د اوړو له خميره څخه په خوب پاته کيږي او کورنی حيوان يې خوري.

وروسته رسول الله ﷺ منبر ته وختی او د عبدالله بن أبي بن سلول د کړنو له امله يې د مسلمانانو څخه مرسته وغوښته. سعد بن معاذ رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د دفاع لپاره ودرېد، خو سعد بن عباده رضي الله عنه د قومي احساساتو له امله د هغه مخالفت وکړ. اسيد بن حضير رضي الله عنه هم د سعد بن عباده په ځواب کي سختې خبرې وکړې، چي له امله يې د اوس او خزرج ترمنځ د جګړې حالت رامنځته شو. رسول الله ﷺ هغوی آرام کړل او شخړه پای ته ورسېده.

عائشة رضي الله عنها بيا دوې ورځې او شپې په سخت غم او ژړا کي تېري کړې. وروسته رسول الله ﷺ د هغې کور ته راغی، حمد او شهادت يې بيان کړ او ورته يې وويل چي د هغې په اړه ورته داسي خبرې رسېدلې دي،که بې ګناه وي الله تعالی به يې براءت ځرګند کړي، او که کومه ګناه ورڅخه سوی وي، بايد له الله تعالی څخه بخښنه وغواړي او توبه وباسي.

عائشې رضي الله عنها خپل پلار او مور ته وويل چي د رسول الله ﷺ خبرې دې هغوی ځواب کړي، خو هغوی هم ونه توانېدل چي څه ووايي. عائشې رضي الله عنها په خپله د خپلې بې ګناهۍ ځرګندونه وکړه او ويې ويل چي خلګو ددې په اړه خبري اوريدلي او باور يې وربانديي کړيدی که هغه خپله بې ګناهي بيان کړي نوڅوک به باور وربانديي ونه کړي، او که پر داسي څه اعتراف وکړي چي نه يې وي کړيکيدای سي خبره يې ومني. هغې د يعقوب عليه السلام د صبر خبره ياده کړه: ﴿فَصَبۡرٞ جَمِيلٞۖ وَٱللَّهُ ٱلۡمُسۡتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ﴾ [ سورة يو سف :۱۸ ]

بيا خپل بستري ته ولاړه. عائشة رضي الله عنها وايي چي په زړه کي يې پر خپلې بې ګناهۍ بشپړ يقين درلود او باور يې درلود چي الله تعالی به يې براءت ښکاره کړی خو دومره يې هم نه ګڼله چي د هغې په اړه به داسي وحيراسي چي تر قيامته به ويل کيږی. هغې يوازي هيله لرله چي رسول الله ﷺ ته به په خوب کي داسي نښه وښودل سي چي د هغې پاکي ځرګنده کړي.

خو الله تعالی د هغې د براءت لپاره د خوب پر ځای په ښکاره وحی نازله کړه. رسول الله ﷺ د وحی د نزول ځانګړی حالت تجربه کړ او کله چي وحی پای ته ورسېدې په خوښۍ موسکي شو او عائشې رضي الله عنها ته يې وويل: أبشري يا عائشة، أما الله فقد برأك »

يعني : اې عائشې خوشحاله سه، الله تعالی ستا بې ګناهي بيان کړه.

وروسته الله تعالی د سورة النور له يولسم آيت څخه د افک د پېښې په اړه لس آيتونه نازل کړل: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلۡإِفۡكِ عُصۡبَةٞ مِّنكُمۡۚ لَا تَحۡسَبُوهُ شَرّٗا لَّكُمۖ بَلۡ هُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۚ لِكُلِّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُم مَّا ٱكۡتَسَبَ مِنَ ٱلۡإِثۡمِۚ وَٱلَّذِي تَوَلَّىٰ كِبۡرَهُۥ مِنۡهُمۡ لَهُۥ عَذَابٌ عَظِيمٞ﴾ [سورة النور:۱۱]

ژباړه : بېشکه هغه کسان چي راوړی يې دی غټ دروغ (په شان د عائشې کښې) يو ټولی دی له تاسي (مسلمانانو) نه ګمان مه کوئ په دې (دروغو) چه شر بد دی تاسی ته (ای مخلصانو مؤمنانو) بلکه دغه (دروغ) خيردی تاسی ته (له جهته د ثواب او منقبت د تاسی) مقرردی هر سړی ته له دغو (بهتان ويونکيو جزا د) هغه څيز چي ګټلي يې دی له ګناه (په قدر دخوض او شغل دده)، او هغه څوک چي پورته يې کړ لوی بار پيټي د دغو (دروغو او شائع يې کړل) له دغه ټولی نشته ورته عذاب لوی (په دارينو کښې). [کابلی تفسير:ج۲،ص۲۹۲].

په دې توګه د عائشې رضي الله عنها پاکي او بې ګناهي د الهي وحی په وسيله څرګنده سوه.

له دې وروسته ابو بکر رضي الله عنه د مسطح په اړه، چي له هغه سره يې د خپلوي او بې وزلی له امله مالي مرسته کوله، قسم وکړ چي نور به مرسته ورسره نه کوي ځکه هغه د عائشې رضي الله عنها په اړه په خپره سوې خبره کي شامل سوی و. الله تعالی بيا وفرمايل: ﴿ وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴾ [سورة النور :۲۲]

ابو بکر صديق رضي الله عنه وويل چي هو، هغه غواړي الله تعالی يې وبخښي نو له مسطح سره يې خپله مالي مرسته بېرته پيل کړه او پرېکړه يې وکړه چي بيا به يې نه بندوي.

په پای کي رسول الله ﷺ د عائشې رضي الله عنها په اړه له زينب بنت جحش رضي الله عنها څخه هم وپوښتل. هغې وويل چي خپل غوږونه او سترګې له ناحقه خبرو ساتي او له عائشې رضي الله عنها څخه يې پرته له خير څخه بل څه نه دي ليدلي. که څه هم زينب رضي الله عنها د عائشې رضي الله عنها سره د رسول الله ﷺ د مېرمنو په منځ کي سيالي لرله، خو د هغې تقوا او پرهېزګاري يې د ناحقه شهادت له ورکولو څخه وساتله. د هغې خور حمنه بنت جحش بيا د عائشې رضي الله عنها پر ضد خبرې وکړې او د افک په قضيه کي له زيانمنو کسانو څخه سوه.

امام مسلم رحمه الله داحديث په تفصيل سره را روايتوی هغه وايي :عبيد الله بن عبد الله بن عتبة بن مسعود، عن حديث عائشة زوج النبي صلى الله عليه وسلم، حين قال لها أهل الإفك ما قالوا: فبرأها الله مما قالوا، وكلهم حدثني طائفة من حديثها، وبعضهم كان أوعى لحديثها من بعض، وأثبت اقتصاصا، وقد وعيت عن كل واحد منهم الحديث الذي حدثني، وبعض حديثهم يصدق [ص:2130] بعضا، ذكروا، أن عائشة زوج النبي صلى الله عليه وسلم، قالت: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا أراد أن يخرج سفرا، أقرع بين نسائه، فأيتهن خرج سهمها خرج بها رسول الله صلى الله عليه وسلم معه. قالت عائشة: فأقرع بيننا في غزوة غزاها، فخرج فيها سهمي، فخرجت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم، وذلك بعدما أنزل الحجاب، فأنا أحمل في هودجي، وأنزل فيه مسيرنا حتى إذا فرغ رسول الله صلى الله عليه وسلم من غزوه، وقفل، ودنونا من المدينة، آذن ليلة بالرحيل فقمت حين آذنوا بالرحيل، فمشيت حتى جاوزت الجيش، فلما قضيت من شأني أقبلت إلى الرحل، فلمست صدري فإذا عقدي من جزع

ظفار قد انقطع، فرجعت فالتمست عقدي فحبسني ابتغاؤه وأقبل الرهط الذين كانوا يرحلون لي فحملوا هودجي فرحلوه على بعيري الذي كنت أركب وهم يحسبون أني فيه، قالت: وكانت النساء إذ ذاك خفافا، لم يهبلن ولم يغشهن اللحم، إنما يأكلن العلقة من الطعام، فلم يستنكر القوم ثقل الهودج حين رحلوه ورفعوه، وكنت جارية حديثة السن، فبعثوا الجمل وساروا، ووجدت عقدي بعدما استمر الجيش، فجئت منازلهم وليس بها داع ولا مجيب، فتيممت منزلي الذي كنت فيه، وظننت أن القوم سيفقدوني فيرجعون إلي، فبينا أنا جالسة [ص:2131] في منزلي غلبتني عيني فنمت، وكان صفوان بن المعطل السلمي ثم الذكواني قد عرس من وراء الجيش فادلج، فأصبح عند منزلي فرأى سواد إنسان نائم، فأتاني فعرفني حين رآني، وقد كان يراني قبل أن يضرب الحجاب علي، فاستيقظت باسترجاعه حين عرفني، فخمرت وجهي بجلبابي، ووالله ما يكلمني كلمة ولا سمعت منه كلمة غير استرجاعه، حتى أناخ راحلته، فوطئ على يدها فركبتها، فانطلق يقود بي الراحلة، حتى أتينا الجيش، بعدما نزلوا موغرين في نحر الظهيرة، فهلك من هلك في شأني، وكان الذي تولى كبره عبد الله بن أبي ابن سلول، فقدمنا المدينة فاشتكيت، حين قدمنا المدينة شهرا، والناس يفيضون في قول أهل الإفك، ولا أشعر بشيء من ذلك، وهو يريبني في وجعي أني لا أعرف من رسول الله صلى الله عليه وسلم اللطف، الذي كنت أرى منه حين أشتكي، إنما يدخل رسول الله صلى الله عليه وسلم فيسلم، ثم يقول: «كيف تيكم؟» فذاك يريبني [ص:2132]، ولا أشعر بالشر، حتى خرجت بعدما نقهت وخرجت معي أم مسطح قبل المناصع، وهو متبرزنا، ولا نخرج إلا ليلا إلى ليل وذلك قبل أن نتخذ الكنف قريبا من بيوتنا، وأمرنا أمر العرب الأول في التنزه، وكنا نتأذى بالكنف أن نتخذها عند بيوتنا، فانطلقت أنا وأم مسطح، وهي بنت أبي رهم بن المطلب بن عبد مناف، وأمها ابنة صخر بن عامر، خالة أبي بكر الصديق، وابنها مسطح بن أثاثة بن عباد بن المطلب، فأقبلت أنا وبنت أبي رهم قبل بيتي، حين فرغنا من شأننا، فعثرت أم مسطح في مرطها، فقالت: تعس مسطح فقلت لها: بئس ما قلت، أتسبين رجلا قد شهد بدرا، قالت: أي هنتاه أو لم تسمعي ما قال؟ قلت: وماذا قال؟ قالت: فأخبرتني بقول أهل الإفك فازددت مرضا إلى مرضي، فلما رجعت إلى بيتي، فدخل علي رسول الله صلى الله عليه وسلم، فسلم ثم قال: «كيف تيكم؟» قلت: أتأذن لي أن آتي أبوي؟ قالت: وأنا حينئذ أريد أن أتيقن الخبر من قبلهما، فأذن لي رسول الله صلى الله عليه وسلم، فجئت أبوي فقلت لأمي: يا أمتاه ما يتحدث الناس؟ [ص:2133] فقالت: يا بنية هوني عليك فوالله لقلما كانت امرأة قط وضيئة عند رجل يحبها، ولها ضرائر، إلا كثرن عليها، قالت قلت: سبحان الله وقد تحدث الناس بهذا؟ قالت: فبكيت تلك الليلة حتى أصبحت لا يرقأ لي دمع ولا أكتحل بنوم، ثم أصبحت أبكي، ودعا رسول الله صلى الله عليه وسلم علي بن أبي طالب وأسامة بن زيد حين استلبث الوحي، يستشيرهما في فراق أهله، قالت فأما أسامة بن زيد فأشار على رسول الله صلى الله عليه وسلم بالذي يعلم من براءة أهله، وبالذي يعلم في نفسه لهم من الود، فقال: يا رسول الله هم أهلك ولا نعلم إلا خيرا، وأما علي بن أبي طالب، فقال: لم يضيق الله عليك والنساء سواها كثير، وإن تسأل الجارية تصدقك، قالت: فدعا رسول

الله صلى الله عليه وسلم بريرة فقال: «أي بريرة هل رأيت من شيء يريبك من عائشة؟» قالت له بريرة: والذي بعثك بالحق إن رأيت عليها أمرا قط أغمصه عليها، أكثر من أنها جارية حديثة السن، تنام عن عجين أهلها، فتأتي الداجن فتأكله، قالت: فقام رسول الله صلى الله عليه وسلم على المنبر، فاستعذر من عبد الله بن أبي ابن سلول، قالت: فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو على المنبر: «يا معشر المسلمين من يعذرني من رجل قد بلغ أذاه في أهل [ص:2134] بيتي فوالله ما علمت على أهلي إلا خيرا، ولقد ذكروا رجلا ما علمت عليه إلا خيرا، وما كان يدخل على أهلي إلا معي» فقام سعد بن معاذ الأنصاري، فقال: أنا أعذرك منه، يا رسول الله إن كان من الأوس ضربنا عنقه وإن كان من إخواننا الخزرج أمرتنا ففعلنا أمرك، قالت: فقام سعد بن عبادة وهو سيد الخزرج، وكان رجلا صالحا، ولكن اجتهلته الحمية، فقال لسعد بن معاذ: كذبت لعمر الله لا تقتله، ولا تقدر على قتله فقام أسيد بن حضير - وهو ابن عم سعد بن معاذ -، فقال لسعد بن عبادة: كذبت لعمر الله لنقتلنه فإنك منافق تجادل عن المنافقين فثار الحيان الأوس والخزرج حتى هموا أن يقتتلوا ورسول الله صلى الله عليه وسلم، قائم على المنبر، فلم يزل رسول الله صلى الله عليه وسلم يخفضهم حتى سكتوا وسكت، قالت: وبكيت يومي ذلك لا يرقأ لي دمع ولا أكتحل بنوم، ثم بكيت ليلتي المقبلة لا يرقأ لي دمع ولا أكتحل بنوم وأبواي يظنان أن البكاء فالق كبدي [ص:2135]، فبينما هما جالسان عندي وأنا أبكي استأذنت علي امرأة من الأنصار، فأذنت لها فجلست تبكي، قالت: فبينا نحن على ذلك دخل علينا رسول الله صلى الله عليه وسلم، فسلم، ثم جلس، قالت: ولم يجلس عندي منذ قيل لي ما قيل، وقد لبث شهرا لا يوحى إليه في شأني بشيء، قالت: فتشهد رسول الله صلى الله عليه وسلم حين جلس، ثم قال: «أما بعد يا عائشة، فإنه قد بلغني عنك كذا وكذا، فإن كنت بريئة، فسيبرئك الله وإن كنت ألممت بذنب فاستغفري الله وتوبي إليه، فإن العبد إذا اعترف بذنب، ثم تاب تاب الله عليه» قالت: فلما قضى رسول الله صلى الله عليه وسلم، مقالته قلص دمعي حتى ما أحس منه قطرة، فقلت لأبي: أجب عني رسول الله صلى الله عليه وسلم، فيما قال فقال: والله ما أدري ما أقول لرسول الله صلى الله عليه وسلم فقلت لأمي: أجيبي عني رسول الله صلى الله عليه وسلم، فقالت: والله ما أدري ما أقول لرسول الله صلى الله عليه وسلم، فقلت وأنا جارية حديثة السن لا أقرأ كثيرا من القرآن إني والله لقد عرفت أنكم قد سمعتم بهذا حتى استقر في نفوسكم وصدقتم به، فإن قلت لكم إني بريئة والله يعلم أني بريئة لا تصدقوني بذلك، ولئن اعترفت لكم بأمر والله يعلم أني بريئة لتصدقونني وإني، والله ما أجد لي ولكم مثلا إلا كما قال أبو يوسف {فصبر جميل والله المستعان على ما تصفون} [يوسف: 18] قالت: ثم تحولت فاضطجعت على فراشي، قالت: وأنا، والله حينئذ أعلم أني بريئة وأن الله مبرئي ببراءتي، ولكن، والله ما كنت أظن أن ينزل في شأني وحي يتلى، ولشأني كان أحقر في نفسي من أن يتكلم الله عز وجل في بأمر يتلى، ولكني كنت أرجو أن يرى رسول الله صلى الله عليه وسلم في النوم رؤيا يبرئني الله بها، قالت: فوالله ما رام رسول الله صلى الله عليه وسلم مجلسه، ولا خرج من أهل البيت أحد حتى أنزل الله عز وجل على نبيه صلى الله عليه وسلم، فأخذه ما كان يأخذه من

البرحاء عند الوحي، حتى إنه [ص:2136] ليتحدر منه مثل الجمان من العرق، في اليوم الشات، من ثقل القول الذي أنزل عليه، قالت: فلما سري عن رسول الله صلى الله عليه وسلم، وهو يضحك، فكان أول كلمة تكلم بها أن قال: «أبشري يا عائشة أما الله فقد برأك» فقالت لي أمي: قومي إليه، فقلت: والله لا أقوم إليه، ولا أحمد إلا الله، هو الذي أنزل براءتي، قالت: فأنزل الله عز وجل: {إن الذين جاءوا بالإفك عصبة} منكم عشر آيات فأنزل الله عز وجل هؤلاء الآيات براءتي، قالت: فقال أبو بكر وكان ينفق على مسطح لقرابته منه وفقره: والله لا أنفق عليه شيئا أبدا بعد الذي قال لعائشة فأنزل الله عز وجل: {ولا يأتل أولو الفضل منكم والسعة أن يؤتوا أولي القربى} إلى قوله: {ألا تحبون أن يغفر الله لكم} [النور: 22]، قال حبان بن موسى: قال عبد الله بن المبارك: هذه أرجى آية في كتاب الله، فقال أبو بكر: والله إني لأحب أن يغفر الله لي، فرجع إلى مسطح النفقة التي كان ينفق عليه، وقال: لا أنزعها منه أبدا، قالت عائشة: وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم سأل زينب بنت جحش، زوج النبي صلى الله عليه وسلم عن أمري «ما علمت؟ أو ما رأيت؟» فقالت: يا رسول الله أحمي سمعي وبصري، والله ما علمت إلا خيرا. قالت عائشة: وهي التي كانت تساميني من أزواج النبي صلى الله عليه وسلم، فعصمها الله بالورع، وطفقت أختها حمنة بنت جحش تحارب لها، فهلكت فيمن هلك قال الزهري: فهذا ما انتهى إلينا من أمر هؤلاء الرهط وقال في حديث يونس: احتملته الحمية،[صحيح مسلم ،حديث : ٢٧٧٠]

د الهي براءت دا پېښه د عائشې رضی الله عنها د لوړ مقام، پاکلمنۍ او د الله تعالی د ځانګړي لطف څرګندونه کوي، او تر قیامته به د قرآن کریم په آیتونو کې د هغې د پاکۍ شاهدي پاته وي.

**د عائشې رضی الله عنها مناقب او فضائل**

الله تعالی ام المؤمنین عائشةرضی الله عنها په بې شمېره ځانګړنو او فضیلتونو نازولې وه. نوموړې د علم، فقاهت، حدیث، دعوت، تربیت او د اسلامي امت د خدمت په بېلابېلو ډګرونو کې پراخ او ارزښتناک خدمات ترسره کړي دي. د هغې فضائل او مناقب ډېر زیات دي، چې له هغو څخه ځینې په لاندي ډول دي:

**د عائشې رضی الله عنها لپاره د جبرائیل علیه السلام سلام**

د عائشې رضی الله عنها له ځانګړو فضیلتونو څخه یو دا دی چې جبرائیل ﷺ د الله تعالی په امر هغې ته سلام رسولی دی. عائشةرضی الله عنها روایت کوي: عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: يَا عَائِشَةُ هَذَا جِبْرِيلُ يَقْرَأُ عَلَيْكِ السَّلاَمَ» قَالَتْ: قُلْتُ: وَعَلَيْهِ السَّلاَمُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ، تَرَى مَا لاَ نَرَى، تُرِيدُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ» [ بخاری,حدیث : ٦٢٤٩/مسلم ،حدیث :٢٤٤٧ ]

ژباړه : عائشة رضي الله عنها وايي رسول الله ﷺ وفرمایل: اې عائشې! دا جبرائیل علیه السلام دی، تا ته سلام وایی ما عرض وکړ: وعلیه السلام ورحمة الله وبرکاته. بیا مې وویل: اې د الله رسوله! تاسې هغه څه وینئ چې موږ یې نه وینو.

عائشةرضی الله عنها په دې وینا سره دې حقیقت ته اشاره وکړه چې رسول الله ﷺ د وحې فرښته جبرائیل علیه السلام لیدلی سو، خو نور خلکو یې د لیدلو توان نه درلود.

دا د عائشې رضی الله عنها یو ستر فضیلت دی چې د آسمان د وحې امین، جبرائیل علیه السلام، د رسول الله ﷺ په واسطه هغې ته سلام رسولی دی، او دا د الله تعالی په نزد د هغې د لوړ مقام او ځانګړي منزلت څرګندونه کوي.

**پر ټولو ښځو د عائشې رضی الله عنها فضیلت:** د ام المؤمنین عائشې رضی الله عنها له سترو فضیلتونو څخه یو دا دی چې رسول الله ﷺ د هغې لوړ مقام او غوره والی په ښکاره او واضح الفاظو بیان کړی دی. حضرت انس رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «فَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ»[ بخاري ,حدیث : ۵۴۱۹/مسلم،حدیث : ۲۴۴۹/ تحفة الأحوذي: حدیث :3888]

ژباړه:د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د عائشې رضي الله عنها فضیلت پر نورو ښځو داسي دی لکه د ثرید فضیلت پر نورو ټولو خوړو.

ثرید هغه مشهور عربي خواړه وو چې له ډوډۍ او غوښې څخه به جوړېدل او د عربو په نزد تر ټولو غوره او خوندور خواړه ګڼل کیدل.(دښوروا پر سر چې میده میده غوښه وی) رسول الله ﷺ د همدې مثال په راوړلو سره د عائشې رضی الله عنها لوړ علمي مقام، پوهه، حکمت او ځانګړی فضیلت بیان کړی دی.

دا حدیث په ښکاره ډول د دې ښکارندويي کوي چې عائشةرضی الله عنها د امت د ښځو په منځ کې ځانګړی مقام او غوره والی درلود او د علم، فقاهت، هوښیارۍ او د د ین د خدمت له پلوه د نورو ښځو لپاره یوه بېلګه وه.

**د عائشې رضی الله عنها په بستر ه کې د وحې نزول :** د ام المؤمنین عائشې رضی الله عنها له ځانګړو فضیلتونو څخه یو دا هم دی چې د رسول الله ﷺ پر مېرمنو کې یواځې د هغې په بستر د وحې نزول کیده. دا داسې ځانګړنه وه چې د رسول الله ﷺ بلې مېرمنې ته نه وه ورکړل سوې.

عائشةرضی الله عنها روایت کوي: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: يَا عَائِشَةُ، هَذَا جِبْرِيلُ يُقْرِئُكِ السَّلاَمَ [مسند الإمام أحمد بن حنبل,حدیث :25173]

په یوبل روایت کې چې عروه یې د عائشةرضي الله عنها څخه روایتوی :هغه وایي خلکو به هڅه کوله خپلې ډالۍ او تحفې په هغه ورځ رسول الله ﷺ ته وړاندې کړي چې هغه به د عائشې رضی الله عنها په کور کې و. عائشةرضی الله عنها وایي: د رسول الله ﷺ نورو مېرمنو حضرت ام سلمه رضی الله عنها ته ورغلې او ورته ویې ویل: «خلک خپلې ډالۍ د عائشې رضی الله عنها د نوبت په ورځ راوړي، حال دا چې موږ هم د خیر غوښتونکې یو لکهعائشةچې ده. نو له رسول الله ﷺ څخه وغواړه چې خلکو ته ووایي هر ځای چې وي، همهغلته خپلې ډالۍ ورته راوړي»

حضرت ام سلمه رضی الله عنها دا خبره رسول الله ﷺ ته وکړه، خو رسول الله ﷺ ځواب ورنه کړ. دویم ځل یې هم یاده کړه، بیا یې هم ځواب ورنه کړ. کله چې یې دریېم ځل یاده کړه، رسول الله ﷺ وفرمایل: «يَا أُمَّ سَلَمَةَ، لاَ تُؤْذِينِي فِي عَائِشَةَ، فَإِنَّهُ وَاللَّهِ مَا نَزَلَ عَلَيَّ الْوَحْيُ وَأَنَا فِي لِحَافِ امْرَأَةٍ مِنْكُنَّ غَيْرِهَا» [ بخاري ,حديث: 2581]

ژباړه : اې ام سلمة د عائشې په اړه ما مه ځوروه ځکه په الله قسم، زما په مېرمنو کي د هېڅ یوې په بستره کي پر ما وحې نه ده نازله سوې، مګر یوازي د عائشې په بستره کي.

دا د عائشې رضی الله عنها یو ستر فضیلت او ځانګړنه ده، چي الله تعالی د وحې د نزول لپاره د رسول الله ﷺ او د هغې د نږدېوالي دا حالت غوره کړی وو. د دې فضیلت یادونه د هغې د لوړ مقام، پاکی او د رسول الله ﷺ د ځانګړې مینې څرګندونه کوي.

**د عائشې رضی الله عنها وفات او تدفین :** ام المؤمنین عائشةصدیقه رضی الله عنها د خپل ژوند تر پایه د اسلام د دین د تعلیم، دعوت او اشاعت په خدمت بوخته وه. نوموړې د حدیث، فقهې او د اسلامي علومو په نشر کي ستر خدمتونه ترسره کړل او د امت د علمي لارښوونې مهمه سرچینه وه.

د عائشې رضی الله عنها د وفات د کال په اړه د علماوو ترمنځ اختلاف سته. ابن حجر عسقلاني رحمه الله په تقریب التهذیب کي د صحیح قول له مخې د ۵۷ هجري کال یادونه کړې ده، خو ابن سعد او ډېری مؤرخین د ۵۸ هجري کال د رمضان المبارک د نولسمې نېټې قول راجح ګڼي. له همدې امله د مؤرخینو ترمنځ مشهور او منل سوی قول دا دی چي عائشةرضی الله عنها د ۵۸ هجري کال د رمضان المبارک په میاشت کي وفات سوې ده.

د هغې د وفات په اړه امام ابن سعد رحمه الله لیکي: عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: «تُوُفِّيَتْ عَائِشَةُ لَيْلَةَ الثُّلاَثَاءِ لِتِسْعَ عَشْرَةَ خَلَتْ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ سَنَةَ ثَمَانٍ وَخَمْسِينَ وَصَلَّى عَلَيْهَا أَبُو هُرَيْرَةَ» [طبقات الكبرى,ج 8 ,ص80]

ژباړه: عائشةرضی الله عنها د ۵۸ هجري کال د رمضان المبارک د میاشتي د نولسمې نېټې د سه شنبې په شپه وفات سوه او په هماغه شپه د وتر له لمانځه وروسته خاورو ته وسپارل سوه. د وفات پر مهال یې عمر شپږ شپېته کاله وو.

ابن عساکر په خپل کتاب تاریخ دمشق کي د عائشة رضي الله عنها دوفات د نیته په هکله مختلف تاریخونه راخیستي چي په یو روایت کي اوولسم د رمضان ،په بل روایت کي نه ویشتم د رمضان را اخیستی.[ تاریخ دمشق ,ج3,ص ۲۰۲]

ابن حجر پخپل کتاب تقریب التهذیب کي دهغي رضي الله عنها د وفات په هکله فرمایي : عائشة بنت أبي بكر الصديق أم المؤمنين «الحميراء» أفقه النساء مطلقا وأفضل أزواج النبي ﷺ إلا خديجة ففيهما «ففيها» خلاف شهير ماتت سنة سبع وخمسين على الصحيح. [تقريب التهذيب, ج ۱، ص750]

ژباړه : «د صحیح قول له مخې، عائشةرضی الله عنها په ۵۷ هجري کال کي وفات سوې ده.

همدارنگه امام ذهبي رحمه الله په سير أعلام النبلاء کي دواړه اقوال ذکر کړي، خو د ډېرو مؤرخينو لکه ابن سعد، ابن عبدالبر، ابن الأثير او نورو مشهور قول ۵۸ هجري دی.

د عائشې رضی الله عنها د جنازې لمونځ حضرت ابو هريره رضی الله عنه ادا کړ او نوموړې د جنت البقيع په هديره کې خاورو ته وسپارل سوه.

د عائشې رضی الله عنها د لوړ مقام او د رسول الله ﷺ د څانگړې مينې په اړه له ام المؤمنين حضرت ام سلمه رضی الله عنها څخه روايت دی چې کله يې د عائشې رضی الله عنها د وفات خبر واورېد، ويې فرمايل: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ كَانَتْ أَحَبَّ النَّاسِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ إِلاَّ أَبَاهَا» [المستدرک علی الصحيحن، حديث :٦٧٤٦]

ژباړه : قسم په هغه ذات چې زما روح يې په لاس کې دی!عائشةرضی الله عنها د رسول الله ﷺ تر ټولو محبوبه انسانه وه، له خپل پلار حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه پرته»

د عائشې رضی الله عنها د وفات خبر چې خپور سو، د مدينې منورې خلک سخت غمجن سول؛ څکه هغه د امت ستره عالِمه، محدثه، فقيهه او د مؤمنانو مور وه. د هغې علمي مقام او شخصيت د خلکو په زړونو کې څانگړی ځای درلود، او د وفات غم يې د مدينې په ټولنه کې په څرگند ډول احساسېده.

په دې توگه ام المؤمنين عائشةصديقه رضی الله عنها له علمي او دعوتي خدمتونو ډک ژوند وروسته خپل خالق ته ور وبلل سوه، خو د هغې علمي ميراث، روايات او فقهي آثار تر نن ورځې د اسلامي امت لپاره د علم او هدايت يوه ستره سرچينه ده.

**د عائشې رضی الله عنها علمي مقام ته کتنه**

الله تعالی عائشةرضی الله عنها په لوړ علمي مقام او ستري پوهې نازولې وه. د هغې روزنه او پالنه خپله د رسول الله ﷺ تر مستقيمي څارنې لاندې ترسره سوه، او هغې د نبوت له سرچينې څخه علم او معرفت ترلاسه کړ. د رسول الله ﷺ په کور کې د ژوند کولو له امله هغې ته داسې علمي فرصتونه په لاس ورغلل چې بلې ښځې ته نه وو برابر سوي.

عروه بن زبير رحمه الله د عائشې رضی الله عنها د علمي مقام په اړه وايي: «لقد صحبت عائشة فما رأيت أحداً قط كان أعلم بآية أنزلت، ولا بفريضة، ولا بسنة، ولا بشعر، ولا أروى له، ولا بيوم من أيام العرب، ولا بنسب، ولا بقضاء، ولا بطب منها...»[سير اعلام النبلاء، ج2 ,ص183 / الشريعة،ج5 ,ص 2411]

ژباړه: ما له عائشې رضی الله عنها سره اوږده ملگرتيا کړې ده، خو هېڅوک مې نه دي ليدلي چې د قرآن د آيتونو، د فرائضو، سنتو، شعر، د عربو د تاريخ، نسبونو، قضاوت او طب په علم کې تر هغې زيات پوه وي.

همدارنگه طبراني دامام زهري رحمه الله ښځه د هغې د پراخ علم په اړه یوه مرسل حدیث روایتوی:
لَوْ جُمِعَ عِلْمُ نِسَاءِ هَذِهِ الأُمَّةِ فِيهِنَّ أَزْوَاجُ النَّبِيِّ ﷺ كَانَ عِلْمُ عَائِشَةَ أَكْثَرَ مِنْ عِلْمِهِنَّ» [طبرانی ، حدیث :299 / السنة,حدیث :753/العلل ومعرفة الرجال,حدیث :4776]

ژباړه: که د عائشې رضی الله عنها علم د ټولو ښځو له علم سره یو ځای شي، بیا هم د عائشې رضی الله عنها علم به تر ټولو غوره وي.

د رسول الله ﷺ صحابه کرام به د دیني ستونزو او فقهي پوښتنو د حل لپاره عائشې رضی الله عنها ته مراجعه کوله. حضرت ابو موسی اشعري رضی الله عنه فرمایي: مَا أَشْكَلَ عَلَيْنَا أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ ﷺ حَدِيثٌ قَطُّ فَسَأَلْنَا عَائِشَةَ إِلاَّ وَجَدْنَا عِنْدَهَا مِنْهُ عِلْمًا»[ترمذي ,حدیث :3883]

ژباړه : ابو موسی اشعري رضي الله عنه فرمایي : د رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین ته به چې کله د حدیث په هکله ستونزه ( مشکل) پیدا سو نو د هغه په هکله به موږ د عائشة رضي الله عنها ښځه پوښتنه کوله نو دهغې سره به دهمهغه حدیث په هکله علم وو.

عائشةرضی الله عنها د رسول الله ﷺ سره به شپه او ورځ یوځایی وه. د نبوي کور چاپېریال، د وحي نزول، د رسول الله ﷺ تعلیمات او د مسجد نبوي علمي مجالس د هغې د علمي ودې ستر لاملونه وو. هغې به د رسول الله ﷺ خبرې او لارښوونې په دقت سره یادولې او د علم د لا زیات فهم لپاره به یې پوښتنې کولې.

د عائشې رضی الله عنها د علمي ذکاوت یوه ښکاره بېلګه هغه پوښتنه ده چې د قیامت د حساب په اړه یې له رسول الله ﷺ ښځه وکړه. نوموړې وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:« مَنْ حُوسِبَ عُذِّبَ» «د قیامت په ورځ به له هر هغه چا سره چې حساب وشي، عذاب به ورکول شی»

عائشةرضی الله عنها عرض وکړ: ﴿قَالَتْ عَائِشَةُ: فَقُلْتُ أَوَلَيْسَ يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: ﴿فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيراً﴾ [الانشقاق: 8]

ژباړه : ایا الله تعالی نه دي فرمایلي : نو ژر ده چه حساب وکړشی له ده سره حساب آسان؟

نو رسول الله ﷺ وفرمایل: ﴿ إِنَّمَا ذَلِكِ العَرْضُ، وَلَكِنْ: مَنْ نُوقِشَ الحِسَابَ يَهْلِكْ﴾ [بخاري,حدیث :103]

ژباړه: په آیت کې مراد یواځې د اعمالو وړاندې کول دي، خو له چا سره چې د حساب دقیق پلټنه وشي، هغه به عذاب ووینې.

دا روایت د عائشې رضی الله عنها د ژور فهم، د قرآن او حدیث د دقیقې مطالعې او د علمي پوښتنو د روحیې څرګند ثبوت دی.دهغې د همدې علمي هڅو په برکت د اسلامي امت لپاره ګڼ شمېر فقهي اوحدیثي مسائل روښانه سوي دي.

د عائشې رضی الله عنها د علمي ژورتیا او د حقایقو د دقیق فهم یوه بله ښکاره بېلګه د قرآن کریم د آیتونو او نبوي احادیثو په اړه د هغې پوښتني دي, چې نوموړې به کله د کوم آیت یا حدیث په مفهوم

کي د لا زيات وضاحت اړتيا احساس کړه، نو له رسول الله ﷺ څخه به يې پوښتنه کوله، او د همدې پوښتنو په برکت د امت لپاره ګڼ علمي مسائل روښانه سوي دي.

له هغو څخه يوه د سورة المؤمنون دا آيت دی:﴿وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَى رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ﴾ [المؤمنون: ٦٠]

ژباړه: او هغه کسان چي ورکوی هر هغه چه ورکوی ( له زکات ونو او خيراتونو ) حال داچي زړونه د دوی ويريدونکي دی( له عدم قبول څکه چه) بیشکه دوی رب خپل ته ورتلونکي دی.

د دې آيت په مفهوم کي عائشې رضی الله عنها پوښتنه وکړه او ويې ويل: «ايا دا هغه کسان دي چي زنا، غلا او شراب څښل کوي، خو بيا هم له الله تعالی څخه ويريږي؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: «ای د ابوبکر صديق لوري! مطلب دا نه دی، بلکي دا هغه کسان دي چي لمونځونه ادا کوي، روژې نيسي، صدقې ورکوي او نېک عملونه ترسره کوي، خو بيا هم ويريږي چي هسې نه الله تعالی يې اعمال قبول نه کړي. همدوی هغه کسان دي چي په نېکيو کي له يو بل څخه مخکي کيږي. [ترمذی، حديث :3175]

همدارنګه عائشةرضی الله عنها د رسول الله ﷺ د دې وينا په اړه هم پوښتنه وکړه: «مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللَّهِ أَحَبَّ اللَّهُ لِقَاءَهُ، وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللَّهِ كَرِهَ اللَّهُ لِقَاءَهُ»

ژباړه: څوک چي د الله تعالی ملاقات خوښوي، الله تعالی هم د هغه ملاقات خوښوي، او څوک چي د الله تعالی ملاقات نه خوښوي، الله تعالی هم د هغه ملاقات نه خوښوي»

عائشةرضی الله عنها عرض وکړ: موږ خو ټول مرګ نه خوښوو!

رسول الله ﷺ وفرمايل: مطلب دا نه دی. مؤمن ته چي د مرګ وخت راسي او د الله تعالی د رضا او نعمتونو زيری ورکړل شي، نو د هغه لپاره تر دې بل محبوب شی نه وي؛ نو هغه د الله تعالی ملاقات خوښوي او الله تعالی هم د هغه ملاقات خوښوي. خو کافر ته چي د الله تعالی د عذاب او سزا زيری ورکړل شي، نو تر هغه بل هيڅ شی ورته ډېر ناخوښ نه وي؛ نو هغه د الله تعالی ملاقات نه خوښوي او الله تعالی هم د هغه ملاقات نه خوښوي. [بخاري,حديث: 6507]

له دې او ورته ګڼو نورو پوښتنو څخه څرګنديږي چي عائشةرضی الله عنها د علم د ترلاسه کولو او د ديني نصوصو د دقيق فهم لپاره ځانګړې لېوالتيا لرله. د هغې علمي ژورتيا، دقيق نظر او د حقايقو د روښانولو هڅو د اسلامي امت لپاره د قرآن او سنتو ډېر مهم مفاهيم واضح کړي دي.

لنډه دا چي د عائشې رضي الله عنها ګڼ شمېر پوښتني او استدراکونه د هغې پر ژور علمي بصيرت، د حقايقو د دقيق فهم پر سوق او د ديني علومو پر ژورې بوختيا دلالت کوي. د هغې د لوړ علمي مقام او پياوړې ذکاوت يوه روښانه بېلګه د «آيت تخيير» په پېښه کي ښکاري.

الله تعالی فرمايي: ﴿ يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلاً﴾ [سورة الأحزاب :٢٨]

ژباړه : ای نبي ووایه ته ښځو خپلو ته که چیرې یې تاسي چي غواړی هم دغه ژوندون لږ خسیس او ښایست رونق دهغه پس راشی چي څه فائده درورسوم ( دمتعه طلاق درکړم) تاسی ته او خوشی کړم تاسی په خوشی کولو نیکو سره او که یې تاسی چي اراده لرئ د الله او درسول ددغه (الله) او د کور د آخرت ( او د نعمتونو دجنت ) پس بیشکه الله تیار کړیدی د پاره دنیکي کوونکیو (ښځو ) له تاسی نه اجر ډیر لوی ( ثواب زیات په جنت کښي ).

عائشةرضي الله عنها روایت کوي چي کله دغه آیتونه نازل سول، رسول الله ﷺ زما کور ته راغی او ویې فرمایل: «زه غواړم له تا سره یوه مهمه خبره شریکه کړم، خو په ځواب کي بیړه مه کوه؛ لومړی له خپلو مور او پلار سره مسوره وکړه.» عائشةرضي الله عنها وایي: رسول الله ﷺ پوهې ده چي زما مور او پلار به هیڅکله ما ته له هغه ﷺ څخه د بېلتون مسوره رانکړي. بیا رسول الله ﷺ د تخییر آیتونه راته ولوستل. ما سمدستي عرض وکړ: «ای د الله رسوله! په دې موضوع کي د مور او پلار له مسورې څه اړتیا ده؟ زه الله تعالی، د هغه رسول ﷺ او د آخرت کور غوره کوم.» له دې وروسته د رسول الله ﷺ نورو مېرمنو هم همدا پرېکړه وکړه. [ صحیح البخاری ،حدیث : ۴۷۸۵]

له دې پېښې څخه څرګندېږي چي عائشةرضي الله عنها، سره له دې چي عمریې لږ وه، د رسول الله ﷺ له لوري تر ټولو مخکي د انتخاب حق ورکړل سو. هغې په ډېر عقل، بصیرت او ایماني ژورتیا سره الله تعالی، د هغه رسول ﷺ او د آخرت ژوند غوره کړ او د دنیا پر زینت او ظاهري نعمتونو یې ترجیح ورکړه.

همدارنګه عائشةرضي الله عنها د میراث او فرائضو په علم کي ځانګړی مهارت درلود. له همدې امله به د صحابه کرامو مشران او فقیهان د میراثي مسئلو د حل لپاره هغې ته مراجعه کوله. مسروق رحمه الله وایي:«ما د رسول الله ﷺ ډېر ستر او مخکښ صحابه لیدلي دي چي د فرائضو او میراث د مسئلو په اړه به یې له عائشې رضي الله عنها څخه پوښتني کولې.

دا ټول روایتونه په ډاګه کوي چي عائشةرضي الله عنها نه یوازي د حدیث، تفسیر او فقهې ستره عالمه وه، بلکي د صحابه کرامو لپاره د علم او فتوی یوه باوري مرجع هم وه، او د اسلامي علومو په تاریخ کي یې ځانګړی او نه هېرېدونکي مقام خپل کړی دی.

حضرت معاویه رضی الله عنه د هغې د فصاحت او ذکاوت په اړه وایي: «ما هیڅ داسي خطیب نه دی لیدلی چي د عائشې رضی الله عنها په څېر فصیح او هوښیار وي. [مجمع الزوائد ومنبع الفوائد:ج ۲۰،ص۱۸]

همدارنګه عطاء بن أبي رباح رحمه الله فرمایي: «عائشه رضی الله عنها د خلکو تر ټولو ستره فقیهه، تر ټولو پوهه او په عامه چارو کي د تر ټولو غوره نظر څښتنه وه.» [سیر اعلام النبلاء :ج۲،ص ۲۰۰]

عائشةرضی الله عنها د خپل ژوند تر پایه د علم د خپرولو او د امت د روزنې په خدمت بوخته وه. د اسلامي نړۍ له بېلابېلو سیمو څخه خلك د علم د ترلاسه کولو لپاره د هغې حضور ته راتلل.عائشة بنت

طلحه رحمها الله وايي: خلکك به له هرې سيمې څخه عائشې رضی الله عنها ته راتلل او له هغې به يې علم زده کاوه. [بخاری , حدیث : 1118]

د مدينې منورې مشهور فقيه حضرت عروه بن زبير رحمه الله او ستر محدث حضرت قاسم بن محمد رحمه الله هم د هغو لويو علماوو له ډلې څخه وو چې له عائشې رضی الله عنها څخه يې علم ترلاسه کړی و. دوی به د هغې اقوالو ته ځانګړې پاملرنه کوله او د فقهي مسئلو په استنباط کې به يې د هغې له لارښوونو ګټه اخيسته.

حافظ ابن حجر رحمه الله ليکي چې عائشةرضی الله عنها د رسول الله ﷺ احاديث، ويناوې او اعمال په ډېر دقت سره ياد ساتلي وو. له رسول الله ﷺ وروسته شپږڅلويښت کاله ژوندۍ پاته سوه او په دې موده کې زرګونو کسانو ترې علم واخيست. د دين ګڼ احکام، آداب او سنتونه د هغې له لارې امت ته رسېدلي دي. آن ځينو علماوو ويلي دي چې د شريعت د احکامو يوه لويه برخه د عائشې رضی الله عنها له روايتونو او علمي خدمتونو څخه نقل سوې ده. حافظ ابن حجر رحمه الله د هغو راويانو نومونه راټول کړي چې له عائشې رضی الله عنها څخه يې روايت کړی، او د هغوی شمېر يې اته اتيا تنه ياد کړی دی، سربېره پر دې نور ډېر کسان هم وو چې د هغې له علمي سرچينې څخه يې ګټه اخيستې ده. [تهذيب التهذيب,ج12,ص432]

له دې ټولو روايتونو او اقوالو څخه ځرګندېږي چې عائشةرضی الله عنها نه يوازې د خپل وخت ستره عالمه، فقيهه او محدثه وه، بلکې د اسلامي امت د علمي ميراث په ساتنه، تدريس او خپرولو کې يې داسې ستر خدمتونه ترسره کړل چې اغېزې يې تر نن ورځې پورې د اسلامي علومو په بېلابېلو برخو کې ځرګندې دي.

**د عائشې رضی الله عنها فقهي خدمتونه**

عائشةرضی الله عنها د فقاهت، اجتهاد او د شرعي احکامو د استنباط په ډګر کې ځانګړی او لوړ مقام لري. لکه څنګه چې هغې د تفسير او حديث په علومو کې ستر خدمات ترسره کړي، همداسې يې د فقهې په برخه کې هم د اسلامي امت لپاره ارزښتناک علمي ميراث پرې ايښی دی. د رسول الله ﷺ د ځانګړې ملګرې په توګه هغې د شريعت د احکامو، د عباداتو د مسائلو او د کورني ژوند د فقهي احکامو په زده کړه او بيان کې مهم رول ادا کړی دی.

حاکم د عطاء رحمه الله څخه د عائشې رضي الله عنها د فقاهت په اړه روايت کوی هغه وايی : كَانَتْ عَائِشَةُ، أَفْقَهَ النَّاسِ وَأَعْلَمَ النَّاسِ وَأَحْسَنَ النَّاسِ رَأْيًا فِي الْعَامَّةِ» [مستدرك على الصحيحن ،حديث :6748]

عطاء رحمه الله فرمايي : ما داسې څوك نه دی ليدلی چې د فقهی په علم کې تر عائشې رضي الله عنها زيات مهارت ولری يا ترهغې زيات علم ولری ،او يا په بيلابيلو چارو کې ترهغې غوره او پخه رأيه وړاندې کړی .

علامه بدرالدين زركسي رحمه الله د عائشې رضی الله عنها د علمي او فقهي مقام په بیان کي لیکي:
«فَحُمِلَ عَنْهَا رُبُعُ الشَّرِيعَةِ» [الإجابة لما استدركته عائشة على الصحابة,ج 1 , ص 15]
يعني د شريعت د احکامو يوه ستره برخه د عائشې رضی الله عنها له لاري امت ته رسېدلې ده. دا خبره د دې څرګندونه کوي چي هغې د اسلامي فقهې په تدوين، تشريح او انتقال کي بې ساري ونډه لرلې ده.

عائشةرضی الله عنها د فقهي مسائلو په فهم او استنباط کي دومره مهارت درلود چي ستر صحابه کرام به د پېچلو شرعي مسائلو د حل لپاره هغې ته مراجعه کوله. په ځانګړې توګه د ميراث، عباداتو، نکاح، طلاق، طهارت او د ښځو د ځانګړو احکامو په باب د هغې فتاوا او علمي نظريات د فقهاوو لپاره مهم ماخذونه ګڼل کيږي. د همدې پراخ فقهي علم له امله علماوو هغې ته د امت د ښځو تر ټولو ستره فقيهه لقب ورکړی دی.

له دې امله ويلی سو چي عائشةرضی الله عنها نه يوازې يوه محدثه او مفسره وه، بلکي د اسلامي فقهې له بنسټيزو شخصيتونو څخه هم شمېرل کيږي، او د هغې فقهي خدمتونو د اسلامي تشريع او فقهي ميراث په ساتنه او انتقال کي نه هېريدونکي رول لوبولی دی.

**د فتوی په ورکولو کي د عائشې رضی الله عنها مقام**

عائشةرضی الله عنها د هغو صحابه کرامو له ډلې څخه وه چي په ډېر شمېر فتواوي يې صادرولې. د فقهې او فتوی په تاريخ کي هغه د «مُکثِرِينِ فتوی» په کتار کي شمېرل کيږي. مُکثرِينِ فتوی هغو صحابه کرامو او صحابياتو ته ويل کيږي چي له هغوی څخه په زياته کچه فقهي فتويوې او شرعي احکام نقل سوي دي.

د علماوو په وينا د مُکثرِينِ فتوی صحابه او صحابياتو شمېر اووه تنه دی، چي نومونه يې دا دي:
ام المؤمنين عائشةرضی الله عنها ,حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه ,حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما، حضرت علي بن أبي طالب رضی الله عنه ،حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما،حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ، حضرت زيد بن ثابت رضی الله عنه.

د دې نوملړ په سر کي د عائشې رضی الله عنها شتون د هغې د پراخ فقهي علم، ژور فهم او د استنباط د ځواک څرګندونه کوي. صحابه کرام او تابعين به د فقهي ستونزو او شرعي مسائلو د حل لپاره هغې ته مراجعه کوله او د هغې فتاوا به يې د اعتبار وړ شرعي مرجع ګڼله. په ځانګړي ډول د عباداتو، کورني ژوند، ميراث، نکاح او د ښځو د احکامو په باب د هغې فتويوې د اسلامي فقهې له مهمو سرچينو څخه شمېرل کيږي. [سير اعلام النبلاء :ج3,ص 236 ]

ابن قيم رحمه الله هم همداسي وايي چي دصحابه کرامو څخه څه د پاسه د يو سلو ديرش کسانو څخه فتواوي راغلي خو په هغوکي مکثرين في الفتوى همدا اووه کسان دی .[ إعلام الموقعين عن رب العالمين,ج 1 ,ص 10]

له همدې امله عائشةرضی الله عنها نه یواځې د حدیث او تفسیر ستره عالمه وه، بلکې د اسلامي فقهې او افتاء په ډګر کې هم د امت له مخکښو او اغېزناکو شخصیتونو څخه ګڼل کېږي.

**د خلفای راشدینو په دوره کې د عائشې رضی الله عنها د افتاء او علمي لارښوونې مقام**

د رسول الله ﷺ له وفات وروسته عائشةرضی الله عنها د اسلامي امت د علمي روزنې او شرعي لارښوونې ستر مسؤولیت پر غاړه واخیست. هغې د خلفای راشدینو په دوره کې د فتوی ورکولو، د دیني احکامو د بیانولو او د خلکو د پوښتنو د ځوابولو په برخه کې مهم رول ادا کړ. عام مسلمانان به د خپلو ورځنیو او شرعي ستونزو د حل لپاره هغې ته مراجعه کوله او هغې به د قرآن کریم او سنتو په رڼا کې هغوی ته لارښوونه کوله.

قاسم بن محمد رحمه الله د عائشې رضی الله عنها د افتاء د مقام په اړه وایي: كَانَتْ عَائِشَةُ قَدِ اسْتَقَلَّتْ بِالْفُتْيَا فِي خِلَافَةِ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ ، وَهَلُمَّ جَرًّا إِلَى أَنْ مَاتَتْ يَرْحَمُهَا اللهُ.» [سیر اعلام النبلاء ,ج5 ,ص 55.]

یعني : عائشةرضی الله عنها د حضرت ابوبکر، حضرت عمر او حضرت عثمان رضی الله عنهم د خلافتونو په زمانه کې په خپلواکه توګه فتویې ورکولې او تر خپل وفات پورې یې دغه علمي خدمت ته دوام ورکړ.

د هغې علمي مقام دومره لوړ و چې یواځې عام خلک نه، بلکې ستر صحابه کرام او د وخت خلفاء به هم د شرعي مسائلو په اړه ورڅخه پوښتنې کولې. په دې اړه روایت سوی:«وكَانَتْ عَائِشَةُ تُفْتِي فِي عَهْدِ عُمَرَ وَعُثْمَانَ، وكَانَا يُرْسِلَانِ إِلَيْهَا فَيَسْأَلَانِهَا عَنِ السُّنَنِ» [ طبقات الکبری,ج2,ص375]

یعني : عائشةرضی الله عنها د حضرت عمر او حضرت عثمان رضی الله عنهما د خلافت په زمانه کې فتویې ورکولې، او دواړو به خلکو ته د هغې خوا ته د پوښتنو لپاره استول او د نبوي سنتو په اړه به یې ترې معلومات ترلاسه کول.

همدارنګه قبیصه بن ذؤیب رحمه الله د هغې د علمي مقام په بیان کې وایي: كَانَتْ عَائِشَةُ أَعْلَمَ النَّاسِ، يَسْأَلُهَا أَكَابِرُ الصَّحَابَةِ. [ طبقات الکبری, ج 2 ,ص 375/ تهذیب الکمال في أسماء الرجال,ج۳۵ ,ص 17]

ژباړه : عائشة رضی الله عنها د خلکو په منځ کې تر ټولو پوهه وه، او د صحابه کرامو مشران به هم د علمي او فقهي مسائلو په اړه هم پوښتني ځیني کولې.

عائشة رضی الله عنها د خپل پلار حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه څخه د نسب پېژندنې (علم الأنساب) علم هم زده کړی و، ځکه حضرت ابوبکر رضی الله عنه د عربو له مشهورو نسب‌پوهانو څخه و. سربېره پر دې، د نبوت په کور کې د رسول الله ﷺ تر مستقیمي روزنې او تعلیم لاندې ستره سوه. د هغې فطري ذکاوت، ژور فکر او د پوښتنو کولو ځانګړتیا سبب سوه چې په قرآن، حدیث، فقه، تاریخ او نورو اسلامي علومو کې ځانګړې مهارت ترلاسه کړي.

له همدې امله عائشةرضی الله عنها د علم، فتوی او فقهي بصیرت له پلوه د امت له سترو علمي شخصیتونو څخه شمېرل کیږي، او د خلفای راشدینو په دوره کې یې د اسلامي شریعت د ساتنې، تبیین او نشر په برخه کې نه هېرېدونکي خدمتونه ترسره کړي دي.

په ځانګړې توګه عائشةرضی الله عنها د علم الفرائض (میراث) په برخه کې پراخه پوهه او ځانګړی مهارت درلود. د میراث د احکامو په اړه به ګڼ شمېر صحابه کرام د هغې حضور ته ورتلل او د خپلو پوښتنو ځوابونه به یې ترې ترلاسه کول.

امام مسروق رحمه الله وایي: لَقَدْ رَأَيْتُ مَشْيَخَةَ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ يَسْأَلُونَهَا عَنِ الْفَرَائِضِ»[ الطبقات الکبری:ج۲،ص۳۷۵/ الکتاب المصنف في الأحادیث والآثار،حدیث :۳۱۰۳۷].

ژباړه: ما د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو مشران او مخور کسان لیدلي چې د میراث د مسائلو په اړه به یې له عائشې رضی الله عنها څخه پوښتني کولې.

د مخکني روایتونو څخه معلومیږی چې عائشةرضی الله عنها یواځې د ښځو لپاره علمي مرجع نه وه، بلکې د امت ستر علما، فقیهان اوصحابه کرام به هم دفقهي ستونزو په حل او د شرعي احکامو په پوهې دو کې د هغې علم ته مراجعه کوله.

**د عائشې رضی الله عنها د استنباط اصول**

ام المؤمنین عائشةرضی الله عنها د لوړ عقل، ژور فهم او ځانګړي فقهي بصیرت څښتنه وه. هغې د شرعي احکامو په استنباط او د نوو مسائلو په حل کې یو منظم منهج درلود. د قرآن کریم، سنت نبوي او قیاس له لارې به یې شرعي احکام استنباطول. د هغې د استنباط مهم اصول په لاندې ډول دي:

۱- د قرآن کریم څخه استدلال

کله چې به کومه شرعي مسئله د عائشې رضی الله عنها مخې ته وړاندې کیده، نو تر ټولو لومړی به یې د هغې حکم په قرآن کریم کې لټوه. که به یې په قرآن کریمکې څرګند دلیل موند، هماغه به یې د فتوی او حکم بنسټ ګرځاوه.

د بېلګې په توګه، عائشةرضی الله عنها او قاسم بن محمد رحمه الله د نکاح متعې د حرمت او نسخې په اړه د قرآن کریم له دې آیت څخه استدلال کړی دی: ﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ ۝ إِلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ﴾ [المؤمنون: 5-6]

ژباړه: او هغه کسان چې خپلې شرمګاهوې ساتي، مګر له خپلو مېرمنو او خپلو مملوکو وینځو پرته؛ نو په دې صورت کې پرې هېڅ ملامتي نسته.

عائشةرضی الله عنها له دې آیت څخه استنباط کاوه چې له دائمي نکاح او ملك یمین پرته بل ډول اړیکه مشروع نه ده، نو ځکه متعه حرامه او منسوخه ده. [ الجامع لاحکام القرآن،ج 5،ص 130]

۲- د حدیثو څخه استدلال

که به د کومې مسئلې حکم په قرآن کریم کې په ښکاره ډول نه موندل کېده، عائشةرضی الله عنها به د رسول الله ﷺ سنتو او احادیثو ته رجوع کوله او له هغو څخه به یې حکم استنباطاوه.

له هغې څخه پوښتنه وسوه چې که یو سړی خپلې مېرمنې ته د ځان د اختیار حق ورکړي، آیا طلاق واقع کېږي که نه؟ هغې په ځواب کې د تخییر د پېښې یادونه وکړه او ویې ویل: قَدْ خَيَّرَنَا رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فَاخْتَرْنَاهُ فَلَمْ يَعُدَّهُ طَلَاقًا. [قرطبي ،ج ۱۴،ص ۱۶۹]

ژباړه: رسول الله ﷺ موږ ته اختیار راکړی و، خو موږ رسول الله ﷺ غوره کړ؛ او هغه دا کار طلاق ونه ګاڼه.

هغې دا استدلال د الله تعالی د دې فرمان پر بنسټ وکړ: ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلاً﴾ [الأحزاب: 28]

دا روایت ښکاره کوي چې عائشةرضی الله عنها به د فقهي احکامو د استنباط لپاره له نبوي سنتو او احادیثو څخه په پراخه توګه ګټه اخیسته.

۳- قیاس او اجتهاد

کله چې به د کومې مسئلې صریح حکم په قرآن او سنتو کې نه موندل کېده، عائشةرضی الله عنها به د شرعي اصولو په رڼا کې قیاس او اجتهاد کاوه.

د بېلګې په توګه، د رسول الله ﷺ په زمانه کې ښځو ته اجازه وه چې مسجد ته ولاړې سي او د جماعت په لمانځه کې ګډون وکړي. رسول الله ﷺ فرمایلي وو: «لَا تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللَّهِ مَسَاجِدَ اللَّهِ. [موطأ الإمام مالك,حديث:12]

ژباړه: د الله بندګانې (ښځې ) د الله له جوماتونو څخه مه منع کوئ.

خو وروسته چې د ټولنې حالت بدل سو او په ښځو کې د سینګار او زینت رواج زیات سو، عائشةرضی الله عنها د حالاتو د بدلون په پام کې نیولو سره وفرمایل: لو أن رسول الله ﷺ رأى ما أحدث النساء لمنعهن المسجد كما منعت نساء بني إسرائيل» [مسلم، حديث :144]

ژباړه: که رسول الله ﷺ د ښځو اوسني حالات لیدلي وای، نو هغوی به یې له جوماتونو څخه منع کړې وای، لکه د بني اسرائیلو ښځې چې منع سوې وې.

دا نظر د هغې د ژور فقهي فهم او قیاسي استنباط ښکارندونه کوي؛ ځکه هغې د حکم علت او د ټولنې بدلون ته پام کړی و.

له دې مثالونو څخه معلومېږي چې عائشةرضی الله عنها د استنباط په ډګر کې یو پیاوړی فقهي منهج درلود. هغې به لومړی قرآن کریم ته رجوع کوله، بیا به یې له سنتو څخه استدلال کاوه، او که اړتیا به وه، د شرعي اصولو په چوکاټ کې به یې قیاس او اجتهاد ترسره کاوه. همدې ځانګړتیا هغې ته د امت د سترو فقیهانو په کتار کې ځانګړی مقام ورکړی دی.

**د صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین د اختلاف په صورت کي دعائشې رضي الله عنها رأيي ته ترجیح ورکول:**

د خلفای راشدینو په دوره کي به چي کله د کومې فقهي مسئلې په اړه د صحابه کرامو ترمنځ اختلاف رامنځته سو، د ام المؤمنین عائشې رضی الله عنها رأیه به د علم، فقاهت او د سنتو د ژورې پوهي له امله ځانګړی اهمیت درلود. فقهاوو او محدثینو به د اختلاف د حل لپاره د هغې نظر ته رجوع کوله، او ډېر ځله به د هغې فتوی د فیصله کوونکي رأيي حیثیت خپلوه.

امام مالک رحمه الله روایت کوي چي له هغه څخه د هغه چا د احرام په اړه پوښتنه وسوه چي د قرباني حیوان یې نښه کړی وي، خو د حج یا عمرې اراده ونه لري. هغه وفرمایل: سئل أيضاً عما اختلف فيه الناس من الإحرام لتقليد الهدي ممن لا يريد الحج ولا العمرة. فقال: الأمر عندنا الذي نأخذ به في ذلك قول عائشة أم المؤمنين: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم بعث بهديه ثم أقام فلم يحرم عليه شيء مما أحل الله له حتى نحر هديه. [ موطأ الإمام مالك،حديث :53]

ژباړه: د امام مالک رحمه الله څخه د هغې مسئلې په اړه هم پوښتنه وسوه چي خلک پکي اختلاف لري؛ یعني  هغه څوک چي د قرباني حیوان نښه کړي، خو د حج او عمرې اراده ونه لري، آیا محرم ګرځي که نه؟ نو هغه وفرمایل: په دې مسئله کي زموږ معتمد او منل سوی قول د ام المؤمنین عائشې رضی الله عنها قول دی. هغې روایت کړی چي رسول الله ﷺ خپل د قرباني حیوان ولېږه، خو خپله په مدینه کي پاته  سو، او تر هغې چي قرباني یې حلاله نه کړه، د الله تعالی له لوري حلال سوي شیان پرې حرام نه سول.

دغه روایت څرګندوي چي د صحابه کرامو او تابعینو ترمنځ د اختلاف پر مهال د عائشې رضی الله عنها رأیه د قوي علمي اعتبار څښتنه وه، او فقهاوو به د هغې قول د استدلال او ترجیح بنسټ باله. دا د هغې د ژور فقهي فهم، د سنتو د دقیقې پوهي  او د امت په علمي ژوند کي د هغې د ستر مقام څرګند دلیل دی.

له مخکنیو روایتونو څخه معلومیږي چي عائشې رضی الله عنها د فقهي بصیرت او ژور علم څښتنه وه. د قرآن کریم، سنت نبوي او اجتهاد په رڼا کي به یې د خلکو پوښتنو ته ځوابونه ورکول. صحابه کرامو او نورو مسلمانانو به له هغې څخه علمي ګټې اخیستې او د اړتیا پر مهال به یې د لیکونو او مکاتبو له لاري هم شرعي فتویې او لارښوونې ترلاسه کولې.

**مناقشه**

د دې څېړني موندنې څرګندوي چي ام المؤمنین عائشةرضي الله عنها د اسلامي امت له سترو علمي شخصیتونو څخه وه. د څېړني اصلي موخه دا وه چي د عائشې رضي الله عنها علمي مقام، د علم په خپرولو کي د هغې ونډه، او د فقهي استنباط منهج روښانه شي. د راټولو سوو معلوماتو له مخې څرګنده

سوه چې عائشةرضي الله عنها نه یوازې د حدیث، تفسیر او فقهې په علومو کې ځانګړی مقام درلود، بلکې اکابر صحابه کرامو به هم د علمي او فقهي ستونزو د حل لپاره هغې ته مراجعه کوله.
دغه پایلې د پخوانیو او معاصرو څېړونکو له موندنو سره همږغي لري؛ څکه امام زهري، عروه بن زبیر، ابو موسی اشعري او نورو علماوو د عائشې رضي الله عنها د علمي برلاسی، فقهي بصیرت او د فتوی په ډګر کې د هغې د ممتاز مقام ستاینه کړې ده. له دې څخه ځرګندیږي چې د اسلامي علومو په وده او انتقال کې د عائشې رضي الله عنها رول بنسټیز او نه هېرېدونکي وو.

**پایله**

د دې مقالې له مطالعې وروسته لاندې مهې پایلې ترلاسه سوې:
۱- عائشةرضي الله عنها د امت د ښځو تر ټولوستره عالمه، فقیهه او محدثه وه.
۲- د هغې علمي روزنه د رسول الله ﷺ تر مستقیمي تربیې لاندې ترسره سوې وه، چې همدې چارې د هغې علمي شخصیت لا پیاوړی کړی و.
۳- صحابه کرامو رضي الله عنهم به د حدیث، تفسیر، فقهې او په ځانګړې ډول د میراثو په مسئلو کې هغې ته مراجعه کوله.
۴- عائشةرضي الله عنها د فتوی له ډېرو ورکوونکو صحابه وو څخه شمېرل کیږي او د خلفای راشدینو په دوره کې یې د فتوی او علمي لارښوونې ستر خدمتونه ترسره کړي دي.
۵- د هغې د استنباط منهج پر قرآن کریم، سنت نبوي، اجتهاد او صحیح قیاس ولاړ وو.
٦- د عائشې رضي الله عنها له لارې د نبوي علومو لویه برخه امت ته انتقال سوې او د اسلامي شریعت په ساتنه او ترویج کې یې مهم رول ادا کړی دی.
۷- د هغې علمي مقام د اسلامي تاریخ د ښځینه عالمانو لپاره یو روښانه او تلپاته بېلګه ده.

**وړاندیزونه**

۱- د ام المؤمنین عائشې رضي الله عنها علمي، فقهي او حدیثي خدمات باید په پوهنتونونو او دیني مراکزو کې په لا ژوره توګه وڅېړل شي.
۲- د عائشې رضي الله عنها د فتویوو، استنباطاتو او فقهي اجتهادونو په اړه دې ځانګړې علمي څېړنې ترسره شي.
۳- د اسلامي امت، په ځانګړې ډول د ښځو لپاره، د عائشې رضي الله عنها علمي شخصیت د نمونې په توګه معرفي او ترویج شي.
۴- د عائشې رضي الله عنها روایت سوي احادیث او علمي آثار دې راټول، تحلیل او معاصرو علمي اړتیاوو ته په کتو سره وړاندې شي.
۵- څېړونکې دې د اسلامي علومو په وده او انتقال کې د صحابیاتو، په ځانګړې ډول د ام المؤمنین عائشې رضي الله عنها د ونډې په اړه لا زیاتې علمي څېړنې ترسره کړي.

٦- د عائشې رضي الله عنها د علمي منهج ، د پوښتني او استدلال د طریقې او د تعلیم او تعلم د اسلوب څخه دې د معاصر اسلامي تعلیم په نظام کې ګټه واخیستل شي.

**اخځلیکونه**


قرآن کریم

١- ابن قيم الجوزي ، محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (المتوفى: 751هـ), إعلام الموقعين عن رب العالمين, تحقيق: محمد عبد السلام إبراهيم,ج1,ص 210, الطبعة: الأولى ، 1411هـ, الناشر: دار الكتب العلمية - ييروت.

٢- ابن ابي شيبة ، أبو بكر بن أبي شيبة، عبد الله بن محمد بن إبراهيم بن عثمان بن خواستي العبسي (المتوفى: 235هـ), الكتاب المصنف في الأحاديث والآثار, المحقق: كمال يوسف الحوت,حديث :31037, الطبعة: الأولى، 1409, الناشر:

٣- ابن الأثير, أبو الحسن علي بن أبي الكرم محمد بن محمد بن عبد الكريم بن عبد الواحد الشيباني الجزري، عز الدين ابن الأثير (المتوفى: 630هـ),اسد الغابة, دار الفكر - بيروت.

۴- ابن حبان ، محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التميمي، أبو حاتم، الدارمي، البُستي (المتوفى: 354هـ)، صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان, المحقق: شعيب الأرنؤوط,باب ذكر عائشة ام المؤمنين رضي الله عنها،حديث : ٧٠٩٣، الطبعة: الثانية، 1414ه ق, الناشر: مؤسسة الرسالة - بيروت.

٥- ابن حجر ,أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي, فتح الباري شرح صحيح البخاري, باب أَصْحَابِ الْحِرَابِ فِي الْمَسْجِدِ,حديث : 454,الطبعةالأولى :1379, دار المعرفة - بيروت.

٦- ابن حجر, أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني (المتوفى: 852هـ), تهذيب التهذيب, الطبعة الأولى، 1326هـ, مطبعة دائرة المعارف النظامية، الهند.

٧- ابن حجر، أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني (المتوفى: 852هـ), تقريب التهذيب, المحقق: محمد عوامة,ط: الأولى، 1406 ,دار الرشيد - سوريا.

٨- ابن رجب الحنبلي ، زين الدين عبد الرحمن بن أحمد بن رجب بن الحسن، السَلامي، البغدادي، ثم الدمشقي، الحنبلي (المتوفى: 795هـ)، فتح الباري شرح صحيح البخاري, تحقيق:مجموعة من العلماء, باب أصحاب الحراب فيالمسجد,حديث :454,الطبعة: الأولى، 1417 هـ, الناشر: مكتبة الغرباء الأثرية - المدينة النبوية.

٩- ابن سعد, محمد بن سعد بن منيع أبو عبدالله البصري الزهري , الطبقات الكبرى, المحقق : إحسان عباس, دار صادر - بيروت.

١٠- ابن عساكر ، أبو القاسم علي بن الحسن بن هبة الله المعروف بابن عساكر (المتوفى: 571هـ), تاريخ دمشق, المحقق: عمرو بن غرامة العمروي,باب ذكر بنيه وبناته عليه الصلاة والسلام،ج٣،ص٢٠٢، عام النشر: 1415 هـ, الناشر: دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع.

۱۱- ابن ماجه , ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني، وماجة اسم أبيه يزيد (المتوفى: 273هـ),سنن ابن ماجه , تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي, دار إحياء الكتب العربية - فيصل عيسى البابي الحلبي.

۱۲- ابي داود , أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (المتوفى: 275هـ),سنن ابي داود, ط:الأولى، 1430 هـ دار الرسالة العالمية.

۱۳ – احمد بن حنبل , أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (المتوفى: 241هـ),العلل ومعرفة الرجال, العلل ومعرفة الرجال, المحقق: وصي الله بن محمد عباس, الطبعة: الثانية، 1422 هـ الناشر: دار الخاني , الرياض.

۱۴- احمد بن حنبل ، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (المتوفى: 241هـ), مسند الإمام أحمد بن حنبل, المحقق: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد، وآخرون,مسند الصديقة عائشة بنت الصديق رضي الله عنه ,حديث :25159, الطبعة: الأولى، 1421 هـ الناشر: مؤسسة الرسالة.

۱۵- امام مالك ،مالك بن أنس بن مالك بن عامر الأصبحي المدني (المتوفى: 179هـ), موطأ الإمام مالك,محقق : محمد فؤاد عبد الباقي,باب ماجاء في خروج النساء الي المساجد, حديث : 12,عام النشر: 1406 هـ مالك بن أنس بن مالك بن عامر الأصبحي المدني (المتوفى: 179هـ).

۱۶- آجري ، أبو بكر محمد بن الحسين بن عبد الله الآجُرِّيُّ البغدادي (المتوفى: 360هـ), الشريعة, المحقق: الدكتور عبد الله بن عمر بن سليمان الدميجي,باب ذكر علم عائشة رضي الله عنها,ج5,ص 2511, الطبعة: الثانية، 1420 هـ الناشر: دار الوطن - الرياض / السعودية.

۱۷- ترمذی ، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى (المتوفى: 279هـ), سنن الترمذي ,المحقق: بشار عواد معروف, دار الغرب الإسلامي – بيروت.

۱۸- حاكم , أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم الضبي الطهماني النيسابوري المعروف بابن البيع (المتوفى: 405هـ), المستدرك على الصحيحين, تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا،ط: الأولى، 1411, دار الكتب العلمية – بيروت.

۱۹- خلال , أبو بكر أحمد بن محمد بن هارون بن يزيد الخَلَّال البغدادي الحنبلي (المتوفى: 311هـ), السنة, المحقق: د. عطية الزهراني,باب ذكر صفين والجمل ،حديث : 753,الطبعة: الأولى، 1410ه, الناشر: دار الراية – الرياض.

۲۰- ذهبی ، شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي (المتوفى : 748هـ), سير أعلام النبلاء, المحقق : مجموعة من المحققين بإشراف الشيخ شعيب الأرناؤوط,ط:الثالثة ، 1405 هـ , مؤسسة الرسالة.

۲۱- زرکشی ، الإمام بدر الدين الزركسي ، الإجابة لما استدركته عائشة على الصحابة,ج 1 , ص 15, شبكة مشكاة الإسلامية.

٢٢- طبراني , سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني (المتوفى: 360هـ), المحقق: حمدي,ط: الثانية, مكتبة ابن تيمية – القاهرة.

٢٣- عبدالله ،عبدالله عبدالغني واخوانه ، تفسير کابلی ،ج٢، الطبعة :١٤١١ه ،بدولة القطر.

٢٤- عيني ،أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى: 855هـ)، عمدة القاري شرح صحيح البخاري, باب فضل عائشة رضي الله عنها ،ج١٦،ص ٢٥٠،دار إحياء التراث العربي – بيروت.

٢٥- قرطبي , أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى : 671 هـ), الجامع لأحكام القرآن, المحقق : هشام سمير البخاري,الطبعة : 1423 هـ دار عالم الكتب، الرياض.

٢٦ - قسطلاني, أحمد بن محمد بن أبى بكر بن عبد الملك القسطلاني القتيبي المصري، أبو العباس، شهاب الدين (المتوفى: 923هـ), إرشاد الساري لشرح صحيح البخاري,باب فضل عائشة رضي الله عنها،ج٦،ص ١٤١، الطبعة: السابعة، 1323 هـ الناشر: المطبعة الكبرى الأميرية، مصر.

٢٧- مالك بن أنس بن مالك بن عامر الأصبحي المدني (المتوفى: 179هـ), موطأ الإمام مالك,محقق: محمد فؤاد عبد الباقي,عام النشر: 1406 هـ ,دار إحياء التراث العربي، بيروت – لبنان.

٢٨- مباركفوري , أبو العلا محمد عبد الرحمن بن عبد الرحيم المباركفورى (المتوفى: 1353هـ), تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي,باب فضل عائشة رضي الله عنها،ج١٠،ص ٢٦١,ب تا, الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت.

٢٩- مسلم , مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (المتوفى: 261هـ),صحيح المسلم, المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي, دار إحياء التراث العربي – بيروت.

٣٠- هيثمي , أبو الحسن نور الدين علي بن أبي بكر بن سليمان الهيثمي (المتوفى: 807هـ), مجمع الزوائد ومنبع الفوائد,دار الفكر، بيروت.

٣١ – مزي ، يوسف بن عبد الرحمن بن يوسف، أبو الحجاج، جمال الدين ابن الزكي أبي محمد القضاعي الكلبي المزي (المتوفى: 742هـ), تهذيب الكمال في أسماء الرجال,المحقق: د. بشار عواد معروف, باب عائشة بنت ابي بكر الصديق ام المؤمنين تكنى،ج٣٥،ص ٢٣٤،الطبعة: الأولى، 1400, الناشر: مؤسسة الرسالة – بيروت.


.

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Helmand University

# Leed Social Science Academic Journal

| Volume:3 | Issue: 1 | Year:1405 |
| --- | --- | --- |